دعوت

۹



مُطلق اطاعت
الله تعالیٰ لره
خاص دی او بل
هیڅ اطاعت نه
کیږی مگر هغه
چه په اطاعت
کښی ئې
اطاعت د الله
تعالیٰ وی

(مولوی جمیل الرحمن)

"زمونږ جهاد به
ترهغه وخته
پورې جاری
وی چه د غیر
الله حکومت او
قانون
ختم شی"

مولوی جمیل الرحمن



وعن عبدالله بن عمرو قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم، المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده والمهاجر، من هجر مانهى الله عنه (هذا لفظ البخارى) ومسلم قال انّ رجلا سأل النبى صلى الله عليه وسلم، ایّ المسلمين خير؟ قال من سلم المسلمون من لسانه ويده.

(متفق عليه)

ترجمه: عبدالله (رض) بن عمرو نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: (پوره) مسلمان هغه دی چه دهغه دژبی او لاسونو نه مسلمان محفوظ او په امان وی او مهاجر هغه دی چه هغه ټول څیزونه ئې پریښی وی دکومو نه چه الله جلّ جلاله منع فرمایلی ده. (دا الفاظ د بخاری دی).

او په مسلم کښ دا الفاظ دی: چه یو سړی له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس وکړو چه مسلمانانو کښ د ټولو نه ښه سړی کوم یو دی؟ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه سړی چه د هغه دژبی او لاسونو نه مسلمانان په امان وی. (بخاری او مسلم)

[redacted]

ادع الی سبیل ربک بالحکمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتی هی احسن

دعوت

دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة دافکارو خپرونکی

دوهم کال - پرلپسی گڼه (۹) - د ۱۴۱۰ هـ ق کال د جمادی الاول او جمادی الاخر میاشتی

PROPERTY OF ACKU

هغه څه چه پدی گڼه کښی لولی

شماره	مضمون	مخ
۱ـ	قرآنی درسونه	۳
۲ـ	قرآنی دعوت او هدایت	۱۵
۳ـ	د کونړ انتخابات	۱۷
٤ـ	د انتخاباتی کمیسیون	۳۰
۵ـ	نوی دام	۳۴
٦ـ	یاالله	۳٦
۷ـ	فرعون	۳۹
۸ـ	دیو روسی ژورنالست	۳۰
۹ـ	اسلامی اخلاق	۳۸
۱۰ـ	د تنظیم طلبه اجتماع	۴۱
۱۱ـ	په مسکو کښی مظاهره	۴۵
۱۲ـ	د جهاد خبرونه	۴۷
	د شمالی ولایاتو عملیات	۴۸

مؤسس:

مولوي جمیل الرحمن

دامتیاز خاوند:

جماعة الدعوة إلی القرآن والسنة

خپرونکی اداره:

فرهنگي کمیټه - دنشراتو لوئ مدیریت

مهتمم:

مولوي غلام محمد "غریب"

پوست بکس:

۱۲۰۲

پېښور پاکستان

بسم الله الرحمن الرحيم

مجاهده وروره! تاتوپك ته لاس كړى د دى له پاره چه مظلوم مسلمانان د كفارو او مشركينو له عذاب او عتاب نه خلاص كړى تاتوپك په اوږه ايښى ددى لپاره چه د دين او وطن دښمنان له كلو او ښارونو و باسى، تاتوپك په اوږه ايښى د دى له پاره چه له دغه كلى او ښار څخه د طاغوت قواوى و باسى او د الله نظام ورباندى حاكم كړى،

مجاهده! ته د الله سپاهى ئى ـ ته د خلكو د ناموس، عزت، او مال مدافع ئى، ته بايد د ظلم او تجاوز مخه ونيسى، نه دا چه طاغوتى لښكرو ته شكست وركړى او بيا پخپله د ښار او كلى په خلكو باندى د خپل نفسى طاغوت راج او باج قايم كړى.

مجاهده! په هر قدم كى د الله تعالى ټاكلى حدود په نظر كى ونيسه، او په دى ايمان ولره چه كه ته ددغو حدودنه تجاوز وكړى بيانو ستا او د بيگانه ؤ ترمنځ هيڅ فرق نشته.

«شيخ جميل الرحمن»

محرم محرم

قرآنی درسونه

الفاتحه

شیخ غلام الله "رحمتی"

> اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝ اَلرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝
> مٰلِكِ یَوْمِ الدِّیْنِ ۝ اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَاِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ ۝
> اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ ۝ صِرَاطَ الَّذِیْنَ اَنْعَمْتَ
> عَلَیْهِمْ غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَلَا الضَّآلِّیْنَ ۝

د الله په نوم چه رحمن او رحیم دی .

ترجمه: تعریف او ثنا یوازی الله تعالی لره ده چه د عالمیانو رب دی . رحمان او رحیم دی . د جزا د ورځی بادشاه دی . مونږ یوازی — ستا عبادت کوو او یوازی له تا څخه مرسته غواړو . مونږ ته سمه لار و ښایه . د هغو خلکو لار چه تا ورباندی انعام فرمایلی . نه لار د هغو کسانو چه غضب ورباندی نازل دی او نه لار د هغو کسانو چه گمراه شوی دی .

تفسیر: بسم الله الرحمن الرحیم : دّ اسلامی تهذیب د اصولو تقاضا داده چه انسان باید خپلی چاری د الله په نوم پیل کړی او د دغو چارو په سرته رسولو کی د کایناتو د پروردگارنه د توفیق دعا وکړی . د چارو په پیل کیدو کی د الله د نوم یاډول انسان د نیکو چارو په سرته رسولو مامور کوی او په

خپله په دی فکر کوی چه دغه کار چه زه ئی سرته رسوم او هغه می د الله په نوم پیل کړیدی ترکومه حده د الله تعالی د خوښی او رضا اسباب برابر وی . شك نشته چه د الله په نوم د یوکار پیل کیدل د انسانی ذهنیت او د اعمالو د اصلاح یوه ستره وسیله ده . په دی وسیله نه یوازی دا چه د انسان ذهن او فکر یو غوره مسیر وهی بلکه انسان د الله د نوم په یادولو سره تل هڅه او زیار باسی چه داسی نیکی چاری سرته ورسوی چه د الله تعالی د رضا موجب او دهغه د مخلوق د خیر ښیگڼی اسباب برابر کړی . کومی چاری چه په بسم الله الرحمن الرحیم سره پیل شی انجام ئی ډیر ښه وی او د شیطان د شر او فساد او ناوړو دسیسونه په امن کی وی .

د بسم الله الرحمن الرحیم تاریخی قدامت د قرآن مجید په استناد له هغه خط نه څرگندیږی چه سلیمان علیه السلام د سباملکی ته استولی دی . انه من سلیمن وانه بسم الله الرحمن الرحیم . (النمل)

الحمدلله: سورة الفاتحه د «ام الکتاب» او «ام القرآن» او «سبع مثانی» د مقام نه علاوه یوه د عاده او ددی دعا آغاز د الله تعالی د ثنا او صفت نه پیل کیږی ځکه چه د دعا لاس د هغه په لور پورته کیږی . په دی ځای کی له هر څه نه وړاندی د الله تعالی ثنا او صفت مونږ ته دا درس راکوی چه دعا باید په مهذبه طریقه وکړیشی . د ادب او تهذیب تقاضا دانه ده چه بیله کومی مقدمی سترگی پټی او خوله پرانستل شی او د مطالباتو ډیری وړاندی شی بلکه احسنه طریقه داده چه لومړی دهغه ذات صفت او تعریف او شان بیان شی ، په انسانی جامعه باندی د الله تعالی د احساناتو او انعاماتو اقرار وشی ، د الله تعالی له ذات سره خپل اخلاص په څرگند ډول اعلان شی او وروسته ورته مطالبات وړاندی شی .

خبره یوازی په دی نه خلاصیږی چه ووایو تعریف او ستایش الله لره دی بلکه غوره خبره داده چه اقرار وکړو او ووایو چه تعریف او ثنا او صفت یوازی او یوازی الله تعالی لره دی . په دی ډول به مویو طرف ته د قدرشناسی او احسان شناسی وظیفه اجرأ کړی وی او بل طرفته به مو د غیر الله د پرستش مانی نړولی وی .

رب : د «رب» ټکی د مالك او بادار ، مربی او پالونکی ، خبر اخستونکی او ساتونکی ، مدبر او فرمانروا معنی لری چه الله تعالی د دغو ټولو صفاتو په لرلو سره د کایناتو او په هغو کی د موجودو مخلوقاتو رب دی .

عالمین: د «عالمین» معنا په قرآن عظیم الشان کی د موسی علیه السلام او فرعون د هغو خبرو له محتوا نه ډیره ښه څرګندیږی چه ذکر ئی د «الشعرا» په سورة کی راغلی دی. موسی علیه السلام فرعون ته وویل: انا رسول رب العالمین. فرعون د یو لړ خبرو نه وروسته د ضد او عناد په ډول پوښتنه وکړه: وما رب العلمین.

موسی علیه السلام ورته په ځواب کی وویل: رب السموت والارض ومابینهما.

یعنی د آسمانونو او ځمکو او د هغو په منځ کی د ټولو موجوداتو رب. د همدغه تعریف له مخی ثابتیږی چه عالمین ټولو آسمانونو او ځمکو او د هغو مخلوقاتو مجموعی ته ویل کیږی چه په دغو کایناتو کی ژوند کوی.

الرحمن: د «الرحمن» معنا داده چه الله (جل جلاله) په دی دنیا کی په ټولو انسانانو او ټولو مخلوقاتو باندی مهربان دی او دواړوته روزی ورکوی داسی نه ده چه کافران او د دنیا غوښتونکی د دوی د کفر او سرکشی په وجه دولوږی او تنګسیا سره مخامخ کوی بلکه الله تعالی د خپل مصلحت او حکمت له مخی هر چاته چه اراده وکړی د دنیا د نعمتونو دروازه ورته خلاصوی فرمائی:

من کان یرید العاجلة عجلنا له فیها مانشاء لمن نرید ثم جعلنا له جهنم یصلها مذموما مدحورا. (۱۸ ـ اسراء)

بل ځای الله تعالی فرمائی:

کلا نمد هولاء وهولاء من عطاء ربك وماکان عطاء ربك محظورا. (۲۰ ـ اسراء)

هر چاته ستا د پروردګار بخشش ورکوو دی ډلی ته او هغی ډلی ته او هیڅوك د دغه بخشش دورکولو په لاره کی خنډونشی جوړیدی.

د الله تعالی عامه رحمت په ټولو مخلوقاتو باندی حاوی دی. په قرآن عظیم الشان کی فرمائی:

ورحمتی وسعت کل شئ

(۱۵٦ ـ اعراف)

الرحیم: د «رحیم» معنی داده چه الله تعالی د قیامت په ورځ یوازی په مومنانو باندی رحیم او مهربان دی.

په قرآن مجید کی د «رحیم» تعریف په دی ډول هم راغلی دی:

هوالذی یصلی علیکم و ملئکة لیخرجکم من الظلمت الی النور وکان بالمومنین رحیما.

ملك یوم الدین: الله تعالی د دنیا او آخرت دواړو واکدار او بادشاه دی خو په دی آیت متبرکه کی د جزا د ورځی اختصاص په دی وجه دی چه په دغه ورځ به مدهش واقعات پیښ شی او دغه ورځ به دومره هیبتناکه او عظیمه ورځ وی چه د هیبت او عظمت په

اندازه به ئی نه بله کومه ورځ تیره شوی وی او نه به وروسته له قیامت نه راشی .

د دغی ورځی د عظمت او هیبت یوه نقشه هماغه ده چه د قرآن مجید د «الحج» د سورة په پیل کی ترسیم شویده الله تعالی فرمائی :

یایهاالناس اتقوا ربکم ـ ان زلزلة الساعة شئ ، عظیم . یوم ترونها تذهل کل مرضعة عما ارضعت وتضع کل ذات حمل حملها و تری الناس سکری وماهم بسکری ولکن عذاب الله شدید .

په سورة مزمل کی فرمائی :

یوما یجعل الولدان شیبا . السماء منفطربه

ترجمه : نو په دغسی یوه مدهشه او عظیمه ورځ به د فیصلی واك او اختیار یوازی د الله تعالی په لاس وی ، لکه چه فرمائی :

وما ادریك مایوم الدین . ثم ما ادریك مایوم الدین .

یوم لاتملك نفس لنفس شیئا . والامر یومئذلله .

مطلب دا شو چه د جزا او فیصلی په دغه ورځ به هیڅوك د چاپه ښه نشی او ټول واك او اختیار به دالله تعالی مقدس ذات ته متمرکز وی . په دغه ورځ به الله تعالی د بشر ټولی پرگنی راجمع کړی او هر یو تن ته به دهغه د ژوند کارنامه په وړاندی کیږدی او حساب به تری واخستل شی او انسان ته به د هغه د اعمالو صله ورکړی شی . د الله تعالی په صفاتو کی د «رحمن» او «رحیم» نه علاوه د «ملك» یادول د امعنا لری چه هغه د فیصلی خاوند او منصف هم دی او داسی منصف چه اخری فیصله د هغه په لاس کی ده او د الله تعالی فیصله په هیڅ ځای کی نشی چاینج کیدی ، نه به ئی څوك د سزا مزاحمت وکړیشی او نه به ئی څوك د مکافات مانع شی .

ایا نعبد وایاك نستعین : مطلب دادی چه مونږ یوازی ستا بندگی کوو او یوازی ستا فرمان ته غاړه ږدو او استعانت هم یوازی ستا نه غواړو . مونږ په دی باور لرو چه ته د کایناتو او په هغو کی د موجودو مخلوقاتو رب ئی ، د طاقت او قدرت سر چینه ته ئی او نعمتونه یوازی ستا په لاس کی دی ځکه خو یوازی ستا عبادت او پرستش کوو او یوازی ستا پاك ذات د خپلو حاجتونو او مطالباتو د پوره کولو مرجع گڼو .

د دغه مبارك آیت تفصیل د یونس د سورة په (۱۰۴) آیت کی په دی ډول راغلی دی :

قل یایهاالناس ان کنتم فی شك من دینی فلا اعبدالذین تعبدون من دون الله ولکن اعبدالذی یتوفکم .

ترجمه : ورته و وایه ای خلکو که تاسو زما د دین په باب په شك او تردد کی یاست نو

زه هیڅکله د هغو بزرگانو پرستش او بندگی نه کوم چه تاسو د الله په ځای د هغوی پرستش کوی بلکه د هغه ذات بندگی او پرستش کوم چه تاسو وژنی .

بل تفسیر ئی په دی ډول دی :

قل یایها الکافرون . لا اعبد ماتعبدون . ولاانتم عابدون ما اعبد . ولاانا عابد ما عبدتم . ولا انتم عابدون ما اعبد . لکم دینکم ولی دین .

د ایاك نستعین معنی داده چه مونږ یوازی تاته په عبادت او پرستش اکتفا نه کوو بلکه استعانت او مرسته هم یوازی ستا نه غواړو او یوازی ستا اقدس ذات د خپلو غوښتنو د پوره کولو مرکز گڼو .

په سورة یونس کی الله تعالی فرمائی :

ولاتدعوا من دون الله مالا ینفعك ولایضرك فان فعلت فانك اذامن الظلمین .

(۱۰٦ ـ یونس)

یعنی غیر له الله تعالی څخه د بل چا پرستش مه کوه چه نه درته گټه رسولی شی او نه تاوان . که ته دغه کار وکړی نو د ظالمونو په ډله کی به وشمیرل شی .

وان یمسسك الله بضر فلاکاشف له الاهو وان یردك بخیر فلاراد لفضله . یصیب به من یشاء من عباده . وهو الغفور الرحیم .

(۱۰۷ ـ یونس»

ترجمه : که الله درته تکلیف ورسوی نو هیڅوك ئی لیری کوونکی نشته مگر الله تعالی او که د انعام اراده درته وکړی نو هیڅوك دهغه د فضل مزاحمت نشی کولی . هر چاته چه و غواړی فضل او انعام وربانددی کوی او هغه بخښونکی او مهربان دی .

عبادات په عمومی ډول په دوو برخو ویشل شوی دی فعلی عبادات او ترکی عبادات . په فعلی عباداتو کی لمونځ ـ روژه ـ زکوة او حج شامل دی او ترکی عبادات لکه : لاتشر کو بالله شیآ ـ ولاتقتلو النفس اللتی حرم الله اللتی الابالحق ـ یعنی له الله تعالی سره شریك مه پیدا کوی او نفس چه الله تعالی محترم گڼلی په ناحقه مه وژنی ولاتظلموا ـ یعنی ظلم او زیاتی مه کوی ـ دغه شان روژه یو ډول ترکی عبادت دی څکه خوراك نه کول ، څښاك نه کول ، جماع نه کول ، دروغ نه ویل ، فحشا نه کول ټول د ترکی عبادت ډولونه دی .

فعلی عبادت بیا په دری ډوله دی :

(۱) قولی عبادت :

یعنی سبحان الله استغفرالله ، لا اله الا الله ـ لاحول ولاقوة الا بالله ـ الله اکبر ویل .

(۲) بدنی عبادت لکه رکوع او سجود .

(۳) مالی عبادت لکه و مما رزقنهم ینفقون و انفقوا فی سبیل الله .

یعنی د عباداتو دغه ډولو نه باید یوازی او

يوازې د الله تعالى لپاره سرته ورسى نه د بل چا لپاره ـ امداد او مرسته بايد و غوښتل شى مگر خاص د الله تعالى څخه . الله تعالىٰ فرمائى :

ولا تدعوا من دون الله ـ

ځينى خلك وائى چه د الله نه غيرئى نه را غواړو مگر كه د الله سره يو ځاى د كوم ولى يا بزرگ نوم يادشى نو څه حرج خونشته . څوك بايد داونه وائى چه اى داتا . اى بابا ـ اواى بزرگواره . بايد وويل شى چه خداى او داتا دى دا كار سرته ورسوى .

د دغى ادعارد د قرآن عظيم الشان دالشعراء د سورة په ۱۲۳ آيت كى وگورئ :

فلا تدع مع الله الهاً اخر فتكون من المعذبين .

يعنى له الله سره بل څوك مه رابله كه نه له هغو كسانو څخه به وشميرل شى چه عذاب وربانذى نازل دى .

له دى وروسته به مشركانو ويل چه د الله سره يو ځاى بايدهم بزرگان راو نه بلل شى او كه د الله نه سوائى رابولى هم روا خبره نه ده ، خوشايد د ژوندو را بلل رواوى او د مړو را بلل ناروا كاروى . الله تعالى د دغى عقيدى دردولو لپاره په سورة اعراف كى و فرمايل چه ژوندى را بلل هم ناروا او حرام دى .

ان الذين تدعون من دون الله عباد امثالكم فادعوهم فليستجيبوا لكم ان كنتم صادقين . (۱۹۴ ـ اعراف)

يعنى هغه كسان چه تاسو ئى د الله په ځاى را بلئ ستاسو په شان بندگان دى را وئى بلى خو بايد چه‌ستاسو دعا ومنى (تاسو ته به څه گټه و نه رسولاى شى) كه تاسو صادقان ياست .

ځينى خلك وائى چه درويشان او پيران د عرش او كرسى په اسرارو ښه خبريږى او دسترگو په رپ كى له كايناتو نه پورته كيږى او عرش ته رسى : د عبدالرحمن بابا دا شعر په خلكو كى ډير شهرت لرى او د هرچا ورد زبان دى :

«چه په يو قدم تر عرشه پورى رسى ـ ماليدلى دى رفتار د درويشانو»

حقيقت دادى چه د پيغمبر عليه السلام د معراج سفر له مكى نه پيل شو ، مسجد اقصى ته ورسيد ، هلته ئى براق و تاړه ـ له پيغمبرانو سره ئى يو ځاى لمونځ اداً كړ ، بيا د جبرئيل په ملگر تياد كايناتو په سفر لاړ . په هر پړاو كى محافظينو پوښتنه كوله او ځواب به وركړى كيدو چه محمد عليه السلام دى چه الله تعالى را بللى دى دروازى به خلاصيدى او په دى ډول له مختلفو پړاوونو څخه تيريده . مگر د تعجب خبره ده چه درويش صاحب نه خو جبرئيل ته ضرورت

لری او نه براق ته او نه د محافظینو څه پرواساتی او بس په یو قدم تر عرشه رسیږی . دا د اسلام عقیده نه ده بلکه یو لړ خرافی نظریات او عقاید دی چه خلکو له ځانه جوړ کړی دی په تیره لا دا چه صوفی د درویش نه هم ځان وړاندی ګڼی او ادعا کوی چه د درویشانو دغه سفر ما په خپلو سترګو لیدلی دی یعنی په خپل صفت او کمال کی دومره استغراق کوی چه خلك په دی قایل کړی چه ګوندی شاعر هم د درویشانو سره د عرش د سفر ملګری ؤ .

داسلام نظریه داده چه :

من قال درویش و درویشان فقد کفر (در مختارص) .

یعنی چاچه وویل چه دا درویش او درویشان دی او نصیحت ئی کاوه چه : «نه چیزی بگو به درویش و نه چیزی بخواه از درویش» نو د کفر مرتکب شو ځکه درویش هغه چا ته ویل کیږی چه هرشی ورته حلال وی . شرك کولی شی زنا کولی شی ـ غلا کولی شی او لمونځ ترك کولی شی .

زموږ اصلی بحث د ایاك نستعین په باب دی د دغه آیت لفظی او معنوی ترجمه داده چه یوازی د الله له ذات نه استمداد کیدی شی او بس ، خوځینی خلك یپاهم مدعیان دی چه په ژوندو کی دومره د کرامت خاوندان نشته او ټول اولیا د ځمکی په تل کی پراته دی او له هغوی نه باید استمدادو شی او یا خدای ته وسیله و ګرځول شی ، ځکه چه په هغوی کی داسی خلك شته چه ځمکه او آسمانونه ئی مسخر دی او دالله په دربار کی ئی سترګی او چتی دی او سفارش ئی چلیږی . الله تعالی د دوی په ځواب کی فرمائی :

والذین یدعون من دون الله لایخلقون شیئا وهم یخلقون . اموات غیر احیاء وما یشعرون ایان یبعثون .

(النحل ۲۰ ـ ۲۱)

یعنی هغه کسان چه تاسو ئی د الله په مقابل کی پرستش کوی هیڅ شی نشی خلق کولی بلکه دوی پخپله مخلوق دی . مړی دی ژوندی نه دی او په دی نه پوهیږی چه کله به را ژوندی کیږی .

نویو سړی چه له خپل سرنوشت او مستقبل نه خبر نه وی د بل چا سرنوشت به څنګه و ټاکی او د چا د تقدیر په بدلولو به ئی څه لاس برشی .

بیا دوی د ځان له پاره حیله جوړ وی او وائی په قرآن مجید کی راغلی دی چه : ولاتدعوا من دون الله مالاینفعك .

دوی په دغه آیت کی د «ما» په ټکی باندی داسی استدلال کوی چه ګوندی دغه د «ما» ټکی په غیر ذی عقول جماداتو باندی دلالت

کوی او بتانو ته اشاره ده ځکه چه هغه جمادات دی په داسی حال کی چه مونږ خوبت پرستان نه یو بلکه د الله تعالی او-لیاو او نازولو ته ناری وهو .

که ددوی نه پوښتنه و شی چه که «ما» په جماداتو شیانو دلالت کوی نو بیاددی مبارك آیت ترجمه څنگه کیدی شی چه الله تعالی فرمائی : و اسماء و مابنٰها . یعنی زما دی قسم وی په آسمان او په هغه ذات چه آسمان ئی جوړ کړی دی.

که په دغه آیت کی د «ما» ټکی په جماداتو اشیاو او غیر ذی علمو شیونو باندی دلالت وکړی نو د ترجمی او تفسیر سلسله به د غلطی کوم سرحد ته ورسیږی ؟

په سورة (ص) کی الله تعالی فرمائی : (ما منعك ان تسجد لما خلقت بیدی) د حضرت آدم تعبیر په ماټکی شوی دی ځوك ویلی شی چه آدم د ذوی العقولو څخه ندی .

ثابته او ښکاره خبره داده چه په عربی ژبه کی (من) او (ما) د ذی عقول او غیر ذی عقول د واړو لپاره استعمالیږی او بیا تری په عبارت او مطلب کی استنباط کیږی . که د فرضیی په شکل دا و منل شی چه (من) یوازی په ذی عقول باندی دلالت کوی نو دا اولیاء خو ذی عقول دی . الله تعالی د ذی عقول له را بللو څخه هم خپل بندگان منع کوی فرمائی :

ومن اضل ممن یدعوا من دون الله من لایستجیب له الی یوم القیامة وهم عن دعائهم غفلون .

(احقاف ـ ٥)

ترجمه: څوك دی غټ گمراه له هغه چا نه چه دالله نه سوا هغه څوك رابولی چه هغه د قیامت تروزځی پوری جواب نه شی ویلای او. هغه ددوی درا بللو څخه بی خبره دی .

د ایمان د تکمیل معیار او ملاك دادی چه انسان د خپل ژوند په ټولو چاروکی د الله تعالی ذات علما او قدرتاً حاضر او ناظر وگنی او که داسی و نه کړی نو دهری او گمراه دی . او چه کله ئی د الله تعالی ذات علماً او قدرتاً حاضر او ناظر و گانه نو بیا ضروری ده چهٔ واحد او لاشریك به ئی هم گنی او په دغه عقیده باندی له تشریف نه وروسته باید اعمال صالحه سرته ورسوی . یوازی د توحید په چیغو کارنه کیږی بلکه پکار داده چه عمل به ئی هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نقش قدم برابر وی .

د قرآن عظیم الشان زبات اصرار او ټینگار د شرك او د هغه د ټولو اشکالو په ردولو دی چه خلك باید لهٔ الله تعالی سره شریك پیدا نه کړی دارنگی په اتباع الرسول باندی ټینگار کوی چه باید د رسول الله صلی الله

علیه وسلم مخالفت و نه کړی . خو انسان هله
د شرك په ردولو موفق کیږی چه دالله تعالی
ذات د عالم الغیب په صفت و پیژنی او غیر
له الله نه هیڅا ته په غیبو باندی په پوهیدو
قایل نشی . الله تعالی د قرآن مبارك په
مختلفو مقاماتو کی د علم غیب وصف په
خپل ذات پوری منحصر کړی او انسان ته
توصیه کوی چه د علم غیب په باب له الله
(جل جلاله) نه بل څوك متصف و نه گڼی .
العیاذ بالله که مونږ دا عقیده ولرو چه فلانی
بزرگ په غیبو خبر دی نو د کومی حادثی په
وخت کی مجبور یو چه له هغه نه استمداد و
غواړو ترڅو د دغی حادثی مخ نیوی وکړی
او له هلاکت نه مو بچ کړی . د دغی عقیدی
په لرلو بیا په دعا پیل کوو او وایو : ای بابا
را رسیږی ـ ای لویه څوانه رارسیږی . او په
دی دول په گمراهیو سرشو او داناری څکه
وهو چه عقیده موداده چه دغه بابا علم غیب
لری او زمونږ غږ له لیرو لیرو فاصلو نه هم
اوری .

الله تعالی د دغه راز عقیدی دابطال له پاره
زیات ټینگار او اصرار کوی او انسان په دی
مامور کوی چه امداد له هغه ذات نه وغواړی
چه علم غیب ورسره وی او علم غیب له الله
نه غیر له هیچا سره نشته .
قرآن مبارك په بللو کښی شرك په دی دول
رد وی :

قل ارءیتکم ان اتکم عذاب الله او اتتکم الساعة
اغیر الله تدعون ان کنتم صادقین .

ترجمه : ورته وایه ـ او گوری که په تاسو
باندی د الله عذاب نازل شی یا قیامت
درباندی راشی نو له خدایه غیر به بل چاته
ناری وهی . راوښیی که صادقان یاست .

د پخوانیو مشرکینو عادت داؤ چه د آرام او
راحت په وخت کی به ئی خپلو خود ساخته
معبودانو لکه لات ـ عزی ـ یغوث او یعوق ته
چیغی وهلی خو چه کله به ورباندی سخته او
تکلیف راغی او روانه بیړی به په غرقیدو
شوه نو یوازی الله به ئی یاداوه او چیغی به
ئی وهلی ـ یاربی ـ یاربی ـ الله تعالی د
دوی دغه حال بیان کړی فرمائی : فاذا رکبوا
فی الفلك دعوا لله مخلصین له الدین .

خو زمونږ د خلکو عادت دا دی چه د راحت
او آرام په وخت کی یا په کوچنیو تکلیفونو
کی خدای ته چیغی وهی او له الله تعالی نه
استمداد غواړی خو چه سخته او تکلیف ئی
زیات شی او بیړی ئی په غرقیدو شی نو
پیران او بابا گان رابولی . او چیغی وهی : ای
لو یه څوانه رارسیږی .

په داسی حال کی چه الله تعالی فرمائی :
ومن یدع مع الله الهاً اخر لابرهان له به
فانما حسابه عند ربه انه لایفلح الکفرون .

(المومنون ـ ۱۱۷)

یعنی هر څوك چه له الله سره بل څوك راوبولی او د هغه په باب ورسره د قرآن او حدیث هیڅ دلیل په لاس نه وی، حساب ئی له خدای سره دی الله به ورته جزا ورکوی او دا سړی کافر دی او کافر بری نشی موندلی.

مثال ئی داسی دی لکه چه د یو سړی زوی مریض شی او پلارئی په زیارتونو گرځی. د زیارتونو خاوری خځلی راوړی او په ماشوم پوری ئی مږی او زیارت ته سوال زاری کوی. په داسی حال کی چه زیارت ورته هیڅ گټه نشی رسولی بلکه دا سړی په خپله چاره کی ناکام شو او دعائی قبوله نه شوه:

وما دعاء الکافرین الافی ضلل.

یعنی د کافرو دعا بی ځایه ده.

ځینی خلك وائی چه مشرکان خو په هرځای کی د الله نه غیر له بتانونه کومك او مرسته غواړی مونږ خو مسلمانان یو، جومات ته ځو ـ لمونځ کوو او بیا دعا کوو چه خدایه ستا د نیکو بندگانو په خاطر او حرمت. د هغوی په شرافت او برکت ـ ستا د اولیاو په کرامت زمونږ دا مشکل حل کړی او یقیناً دی چه دغسی دعا غوښتل حرام نه دی.

په سورة (جن) کی الله تعالی د دوی دغه دلیل رد کړیدی فرمائی:

وان المساجد لله فلاتدعو مع الله اخر.

یقیناً چه جوماتو نه دالله د عبادت لپاره دی په دی جوماتونو کی له الله سره بل څوك مه رابولی او له بل چا نه استعانت مه غواړی.

د «احداً» مطلب دا دی چه هیڅوك مه رابولی که ذی عقول دی او که غیر ذی عقول. که ولی دی که بزرگ خو رابلل ئی شرك دی.

ایاك نعبد وایاك نستعین په دی وجه لازم شوی چه په دغه اقرار سره د شرك او مخلوق پرستی تولی وهمی او خرافی مانی نړیږی او انسان یوازی الله تعالی ته رجوع کوی ځکه چه الله ورته فرمائی:

ادعونی استجب لکم.

له مانه و غواړی چه ستاسو دعا قبوله کړم.

بیا ورته فرمائی:

واذا سالك عبادی عنی فانی قریب اجیب دعوة الداعی اذا دعانی.

ترجمه: او زما بندگان چه له تا څخه زما په باب پوښتنه کوی نو زه نږ دی یم زه د هغه چا دعا ډیره ښه اورم او قبلوم ئی چه یوازی له مانه ئی غواړی. بل ځای ورته د دعا طریقه ښائی:

ادعوا ربکم تضرعاً وخفیة انه لایحب المعتدین.

خپل رب ته په عاجزانه او پټ ډول دعا

وړاندی کړی (چیغی مه وهی) الله تعالی له حده زیاتی کوونکی نه خوښوی .

د فاتحی د سورة د دغه مبارك آیت عملی نمونی په قرآن عظیم الشان کی په دی ډول وړاندی شوی دی چه دا ټولی نمونی د بشری پرگنو لپاره ددعا د طریقی د زده کولو درس دی .

د ذکر یا علیه السلام په باب فرمائی :

ذکر رحمت ربك عبده ذکریا . اذ نادی ربه نداء خفیا .

یونس علیه السلام دماهی د نس په تاریکی الله تعالی ته زاری کوی :

و نادی فی الظلمت ان لا اله الا انت سبحانك انی کنت من الظلمین .

شعیب علیه السلام ته چه تکلیف رسیدلی هم یوازی الله تعالی ته ئی دعا کړی :

ربنا افتح بیننا و بین قومنا بالحق وانت خیر الفاتحین .

نوح علیه السلام خپل رب ته دعا کوله :

ربی انی مغلوب فانتصر .

بیائی ورته زاری کولی :

رب لا تزر علی الارض من الکافرین دیارا انك ان تزرهم یضلوا عبادك ولایلدوا الافاجرا کفارا .

د پیغمبرانو په دغو ټولو دعاگانو کی چه په قرآن مبارك کی ذکر دی هیڅکله هم د الله تعالی له ذات سره د بل کوم نیك او بزرگوار شخصیت نوم نه دی شریك شوی او هغوی یوتن هم د الله تعالی دربار ته د چاکرامت او شرافت د وسیلی او سفارش په توگه نه دی وړاندی کړی نو مونږ ولی خپلی دعاگانی په سیندلاهو کړو . دغه ټول مثالونه ددی حقیقت ښکاره ثبوت دی چه د دعا او استمداد لاس یوازی او یوازی د الله تعالی دربار ته پورته کیږی او د هر ډول سختی او تکلیف په وخت باید د الله تعالی ذات د خپل نجات او فلاح مرجع وگڼو .

داؤ د ایاك نعبدو ایاك نستعین تفسیر او تشریح چه د قرآن د نصوصو په رڼاکی وړاندی شو .

اهدنا الصراط المستقیم: دا هغه درخواست او مطالبه ده چه انسان ئی د الله تعالی د پورتنیو صفاتو له بیان نه وروسته د قرآن په شروع کی د الله تعالی دربار ته وړاندی کوی او ورته دعا کوی چه ای الله مونږ ته د ژوندانه داسی طریقه راوښایه چه ستا د رضا او خوښی موجب گرځی . ای الله ـ په دنیا کی د بیلا بیلو خود ساخته فلسفو د تبلیغ او په خلکو باندی د هغو د منلو ډنډوری غږیږی . د دغه هر یو نظام داعیان د خپلی خپلی فلسفی او مکتب ښیگڼی او حقانیت بیا نوی . مونږ نه پوهیږ و چه د حق او حقیقت لار کومه ده ؟ ته زمونږ د عقیدوی ،

روحانی ، دنیوی ، اخروی ، اخلاقی ، اجتماعی ، اقتصادی او سیاسی سوکالی او نیکمرغی لار موږ ته وښی ، تر څو ستا د نیکو بندګانو چه ستا په ښودلی شوی لار باندی روان وی او د دنیوی اواخر وی نیکمرغی مدارجو ته رسیدلی دی ملګری او رفیقان شو . د دی هدایت مطلب او مقصد په قرآن عظیم الشان کی په دی ډول ښودلی شوی دی .

والذین اهتدوا زادهم هدی واتاهم تقواهم ـ (محمد ـ ۱۷)

ترجمه: او هر هغه کسان چه سمه لیارئی موندلی ده زیات کړی دی دوی ته (الله یا قرآن) هدایت بصیرت او ورکړی ده (الله) دوی ته پرهیزګاری د دوئ .

صراط الذین انعمت علیهم: لار د هغو کسانو چه تا انعام ورباندی کړی دی یعنی هغه لار چه ستا نیك بندګان ورباندی تللی او د آبدی سعادت او خوشحالی پړاوته رسیدلی دی . دغه منعمین عبارت دی له انبیاء ، صدیقین ، شهدا او صالحین .

دا آیت اشاره ده صداقت الرسل ته چه انسان باید دکامل ایمان د لرلو لپاره په الله تعالی باندی د ایمان او یقین لر لو نه وروسته د پیغمبرانو په صداقت هم باور ولری . دا ټول هغه کسان دی چه په توحید عقیده لری ، د پیغمبرانو په صداقت ئی باور څرګند کړی او یوم الدین یوه حتمی راتلونکی ورځ ګنی .

غیر المغضوب علیهم والضالین: یعنی موږ دهغو کسانو په لاره مه برابر وه چه ستا د قهر او غضب مورد ګرځیدلی او یا ګمراه شویدی . زموږ سوال او دعا داده چه موږ ته زموږ د دنیوی او اخروی نیکمرغی لار برابره کړه او د هغو کسانو په نقش قدم مو روان کړه چه ستا انعام ورباندی شویدی . خو داسی انعام نه چه دنیوی او عارضی او ظاهری وی او یوازی په دنیا کی د سرو او سپینو او زعامت خاوند وی مګر په حقیقت کی ورباندی ستا د عذاب او عتاب وعده حاوی شوی وی او یا هغه کسان چه د خپلی آبدی او جاویدانی نیکمرغی لار تری ورکه وی او د ضلالت او جهل په میروئی سروی . موږ دهغو کسانو په لار برابر کړه چه په خپل ایمان او صداقت ئی ستا رضا حاصله کړی وی نه د ظالمانو او ستمګرانو لار چه د دنیوی فانی اقتدار په نشه مست وی او چه کله ئی سترګی د مرګ په خوب ورشی بیا ورته جوخت ستا د عذاب او عتاب دروازه خلاصه وی .

قرآني دعوت او هدايت

د حضرت موسى عليه السلام دعوت او د هغه د پيغمبرانه حكمت څو بېلګي

له دى ځايه څخه غواړو چه د پيغمبرانه دعوت يوه بله ښكلى نمونه وړاندى كړو او خبرى ورباندى وكړو . دا د حضرت موسى عليه السلام د دعوت نمونه ده . يعنى دهغه دعوت يوه بيلګه چه حضرت موسى عليه السلام د الله جل جلاله لورى ته د عصر د يوه سرسخت باغى درابللو لپاره خپله كړى وه او هغه دعوت چه حضرت موسى عليه السلام ورباندى د الله جل جلاله له لورى مامور شوى ؤ او فرعون د هغه مخاطب ؤ .

د دعوت او تبليغ دا طريقه له پخوانيو روشونو څخه چه مونږ ورباندى بحث كړى او يا به ورباندى انشاءالله وروسته خبرى وكړو ، زيات توپير لرى ، د دعوت د دغى طريقى توپير د درى اساسى عواملو له مخى اهميت لرى .

۱ ـ د دعوت اصول او طريقه .

۲ ـ د دعوت كوونكى حيثيت او مقام .

۳ ـ د هغه چا حيثيت او مقام چه دعوت ورته وړاندى كيږى .

هغه دعوت چه حضرت موسى عليه السلام وړاندى كاوه او هغه دعوت چه حضرت موسى عليه السلام ئى په وړاندى كولو باندى مأمور شوى ؤ ، د نورو پيغمبرانو عليهم الصلوة والسلام د دعوت د طريقو څخه يو ډول خاص توپيردر لود . د دعوت مركزى او اساسى ټكى په دغه طريقه كښى په خپل اصلى او حقيقى ډول پراته دى ، يعنى د الله جل جلاله لورى ته دعوت ، توحيد ته دعوت ، په آخرت باندى ايمان او يقين لرلو ته دعوت ، له مرګ نه وروسته په بيا را ژوندى كيدو ، د آخرت په ژوند او حساب ، كتاب او د الله تعالى جل

جلاله په صفاتو او غیبی چارو باندی یوازې د الله تعالی جل جلاله په علم لرلو باندی د عقیدی ښکاره کولو لوری ته دعوت .

مګر د حضرت موسی علیه السلام د دعوت په چارو کښی یوه وظیفه بله هم زیاته شوی او هغه د فرعون د ظلم او زور څخه د بنی-اسرائیلو نجات او د هغه تکلیف او سختی خاتمه وه چه بنی اسرائیلو د فرعون د وحشت او مظالمو په وجه برداشت کړی وو .

د حضرت موسی علیه الصلاة والسلام د دعوت نوعیت د نورو انبیاؤ کرامو له کار او وظیفی سره تو پیر در لود څکه په هغه باندی دوه مسئولیتو نه ایښودل شوی وو او د الله (جل جلاله) له طرفه ورته آمر شوی ؤوچه لومړی ظالم او جابر فرعون ته د حق پیغام ورسوه او دواحد او قهار خدای جل جلاله ذات لوری ته ئی متوجه کړه ، هغه ذات چۀ په حکومت کښی ورسره هیڅوك شریك نه دی او په قانون جوړولو کښی ئی د بل هیڅا لاس نه شته . دویم داچه د فرعون نه مطالبه وکړه چه بنی اسرائیلو ته آزادی ورکړی او له زندانونو ئی راخوشی کړی قرآن مجید واقعه په دی ډول بیانوی :

فاتیاه فقولا انا رسولا ربك فارسل معنا بنی اسرائیل ولا تعذبهم قدجئنك باية من ربك والسلام علی من اتبع الهدی .

ترجمه : نو تاسو هغه ته ورشی او ورته ووائی چه مونږ ستا د پروردګار له لوری ، ځینی نخښی له ځان سره راوړی دی او سلامتی دی وی په هغه چا چه د هدایت خبره ئی ومنله .

دا د حضرت موسی علیه الصلاة والسلام د دعوت هغه بڼه ده چه د نورو انبیاؤ کرامو له دعوتونو څخه ئی ورته امتیاز ورکړی دی . د هغه د ژوند موقف یو حساس رنګ درلود . د هغه د ژوند فراز او نشیب له نورو نه ډیر جلاؤ نو څکه خوئی د دعوت داستان یو ځانګړی خصوصیت لری .

د فرعون د شرنه د بنی اسرائیلو آزادی کومه ساده خبره نه وه ، حقیقت دا وه چه بنی-اسرائیل په خپلو ټولو دینی او اخلاقی اقدارو کښی د انحطاط او ډیرو زیاتو کمزوریو سره سره یوازینی قوم ووچه ایمان بالله په کښی پاتی شوی ؤ او د توحید د عقیدی وارث اوایمن ؤ . تاریخ ګواهی ورکوی چه بنی-اسرائیل د خپلو دینی او اخلاقی کمزوریو سره سرۀ د تاریخ په هر عصر کښی (په یوه نه یوه درجه کښی) د توحید په عقیده ټینګ پاتی شوی دی او داسی زما نه هم تیره شوی ده چه له یهودو نه غیر په کښی چا د توحید عقیده نه پیژنده .

پاتی په (۴۴) مخ کښی

دکونړ انتخابات د یو خاص امنیتي ضرورت پر بناء د کونړ په ولایت کښې د یوې واحدې اسلامي ادارې د جوړیدو لپاره سرته ورسیدل

مولوی غلام محمد

محترم لوستونکی به خبروی چه څو ورځې وړاندې د کونړ په ولایت او پاکستان کښې د مهاجرو په کیمپونو کښې د یو خاص امنیتي او عام المنفعه ضرورت پر بناء ، د کونړ په آزاد ولایت کښې د یوې واحدې اسلامي ادارې د جوړیدو په منظور ، د افغانستان د دولس جهادی تنظیمونو له خوا انتخابات پیل او په ډیره آرامه فضاء کښې سرته ورسیدل .

دا چه د کونړ ولایت په افغانستان کښې د جهاد د پیل کیدو او په کامله توګه د روسي برېڅو له ناولو پنجو څخه په لومړي قدم کښې د آزادیدلو په مناسبت خاص اهمیت لري ، پدې اساس په هغه ولایت کښې د انتخاباتو بهیرهم په ملي او بین المللي ساحو کښې بیلا بیل انعکاسات را پارولي او نړۍ وال انظار د دغو انتخاباتو د نتایجو په انتظار دی .

نړۍ وال استکبار د خپل منعفت جویانه او منافقانه سیاست پر بناء هماغسې چه د افغانستان ټول اسلامي او مجاهد امة ټوټه ټوټه او په مختلفو تنظیمو ویشلی ، همداسې ئې د کونړ په ولایت کښې هم مختلف اسمي او رسمي تنظیمونه منځته راوړي دي . د افغانستان جماعة الدعوة الی القرآن والسنة تنظیم چه په عقیده او عمل کښې ځان د سلفو صالحینو پیرو بولي ، د خپلې جهادي سابقې او خالص اسلامي نړۍ لید پر اساس تل دا هڅه کړې او کوی ئې چه په ټول افغانستان کښې خصوصاً د کونړ په ولایت کښې د جهادي څواکونو او د مجاهدو ورونو ترمنځ ټول مناسبات او کړه وړه د قرآن او سنت پربناء سرته ورسوی او د ټولو

مجاهدینو ترمنځ دوروړګلوی او اخوت فضاء قایمه او باقی پاتی شی .

څرنګه چه د کونړ ولایت د کابل د ملحد رژیم له منګولو څخه آزاد دی ، د خلکو دورځنی ژوند د سنبالښت او په دغه سیمه کښی د امنیت او بیاودانی لپاره دا خاص ضرورت ؤ چه دلته باید یوه واحده اسلامی اداره جوړه شی ، څو د کړووړی او زور آزمائی مخنیوی وکړی . ځکه چه د ګړوړی او زور آزمائی په صورت کښی نه د خلکو ژوند په امن کیدلای شی او نه ئی مال .

پدی اساس د کونړ د ولایت د ټولو جهادی ځواکونو له قوماندانانو او مجاهدینو او مشرانو سره له مشوری وروسته دا تصمیم ونیول شو چه په دغه سیمه کښی باید انتخابات و شی او د انتخاباتو په اساس یوه واحده اسلامی اداره جوړه او قایمه شی . د ټولو خلکو د اطلاع لپاره دوه ځلی په خاصه توګه د دغی پریکړی د تائید پوسترونه چاپ او نشرته وسپارل شول .

په دغو انتخاباتو کښی داوه (۷) رسمی تنظیمونو له نمایندګانو او قوماندانانو نه علاوه پنځو نورو جهادی تنظیمونو هم برخه واخیسته چه د هغوی نومونه په لاندی ډول دی :

۱ ـ د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة تنظیم . ۲ ـ د اسلامی اتحاد په نوم د قاضی محمد امین «وقاد» تنظیم . ۳ ـ د حرکت انقلاب اسلامی په نوم د مولوی نصرالله «منصور» تنظیم . ۴ ـ د نورستان انقلابی دولت . ۵ ـ د اشاعة التوحید والسنة تنظیم .

نړی وال استکبار د خپل فطری خاصیت او هغه عناد پر بناء چه له اسلامی اداری او اسلامی پیوستون سره ئی لری ، هیڅکله دانه غواړی چه آزاد ولسونه دی خپل سرنوشت په خپله و ټاکی او د خپلو چارو واګی دی د دوی له لاس وهنی پرته په خپل لاس کښی واخلی .

د اسلام دښمنان او شخصی مفاد پرستان دا هلی ځلی کوی چه د کونړ په ولایت کښی شوی انتخابات په یوه او بل نوم بدنام کړی او یالږ ترلږه هغه له خپل آرزښت او مقام څخه وغورزوی . کله وائی دا انتخابات امنیت نه شی راوستی او کله وائی چه دا انتخابات د دوه ؤ تنظیمونو ترمنځ شوی او نور جهادی ځواکونه په کښی ونډه نلری او داسی نوری اوتی بوتی .

مونږ له هغو کسانونه چه ځانونه مسلمان بولی او دعوامو دغو لولو لپاره ئی دا مبارک آیة د خپلو لیکنو په سرکښی لیکلی وی :

«واعتصموا بحبل الله جميعاً ولا تفرقوا» دا پوښتنه کوو چه «اعتصام» په «حبل الله» یعنی څه ؟ آیا د الله جل جلاله قانون او قومانده باید ومنل شی او اتحاد پری راځی ، که ستاسو قانون او قومانده باید ومنل شی او اتحاد پری راځی ؟ هغو قوماندانانو چه دانتخاباتو لپاره ځانونه کاندید کړی ؤ څوك ؤ ؟ د هغوی جهادی افتخارات تر او سه پوری د چاوو چه اوس ئی د یوه نیك عمل په ارتکاب مجرم بولی ؟ د جهاد د جگړی دغو ننگیالیو خو به چه کله د روسانو زور او به کاوه نو تاسو به وربانډی شمله اوچتو له چه زمونږ قوماندان کارنامه ثبت کړه مگر اوس چه هغوی له جگړی خلاص شوی او خپله سیمه ئی د ملحدینو او پردیو اشغالگرانو له منحوسو قدمونو پاکه کړی آیا د دی حق نه لری چه په خپل ولایت کی دیوی واحدی اسلامی اداری د جوړیدلو لپاره خپله رایه او نظر څرگند کړی ؟

او آیا ددی حق نه لری چه د روسانو په ټانکونو او جهازونو خپل کنډواله شوی ولایت د یوی واحدی اسلامی اداری د منځته راتگ په واسطه آباد او معمور کړی ؟

مونږ فکر کوو چه د ضمیر او ویښ وجدان هیڅ څښتن به د خود ساخته پادشاهی په نیلی د سپرو لارو یو دغه قضاوت په حقه و-نه گڼی ، بلکه د کونړ د ولایت انتخابات به په هیواد کی د عامو انتخاباتو د انعقاد پیلامه وگڼی .

خو دا چه د اسلامی حکومت د تشکیل لپاره د عام نظر د څرگندولو لپاره د دغسی انتخاباتو اعلان به د خود ساخته حکومت-دارانو اعتبار ته صدمه رسوی او که گټه ؟ هغه خبره ده چه ډیری سوالیږ ئی باید ترمخی کیښودل شی .

چراغی راکه ایزد برفروزد

هر آنکس پف کند رویش بسوزد .

دکونړ ولایت د متحده اسلامی کمیسون د انتخاباتی کار لائحه

د کنړونو د ولایت انتخاباتی کمیسون خپل محو له وظایف د لاندینی لایحی مطابق تنظیموی :

۱ ـ د متناسبی نمایندگی د انتخاباتو په طریقه به انتخابات صورت نیسی .

۲ ـ درای ورکوونکو افرادو اوصاف په لاندی ډول دی :

الف ـ هر رائی ورکوونکی شخص به د خپل عمر پنځلس کلنی پوره کړی وی او یا به ئی عمر له دی څخه پورته وی .

ب ـ هررائی ورکوونکی شخص به د (۱۳٦۵) هـ ش کال ترپایه پوری په اسلامی جهاد کی عملا سهیم وی . د (۱۳٦٦) هـ ش کال له پیل څخه وروسته د مجاهدینو په صفونو کی وررنوتی اشخاص د رای ورکولو حق نه لری .

ج ـ هررای ورکوونکی شخص به د غیر اسلامی تنظیمونو په ارتباط متهم نه وی .

د ـ هررای ورکوونکی شخص به د دهری حکومت په گټه په فعالیت او ارتباط او د مجاهدینو پر ضد عمل متهم نه وی .

و ـ هررای ورکوونکی شخص به د اسلامی احکامو پابند او په کبیره گناه به مشهور نه وی .

۳ ـ د هغو افرادو اوصاف چه د مرکزی شورا د غړو په صفت انتخابیږی په لاندی ډول دی :

الف ـ د مرکزی شورا هرغړی به د خپل عمر دیرش کلنی پوره کړی وی او یا به ئی عمر له دی څخه پورته وی .

ب ـ د پورتنی دوهمی مادی دآخری دری جزونو اوصاف به هم لری .

ج ـ د مرکزی شورا هر غړی به د (۱۳۵۸) هـ ش کال ترپایه پوری په اسلامی جهاد کی عملا سهیم وی .

د ـ اهل حل والعقد شخصیت به وی .

و ـ د اسلامی اداری د چلولو اهلیت او کفایت به ولری .

۴ ـ رای گیری به په ټاکلی یوه ورځ اویوه نیټه سرته رسیږی چه د سهار له نهو بجو څخه شروع او د ماښام تراوو بجو پوری به دوام کوی . د ولایت په داخل او کمپونو کی

به رای گیری په عین ورځ او نیټه صورت نیسی . له دی ټاکلی نیټی او وخت ځخه وروسته بیا هیڅوك درای ورکولو او شکایت حق نه لری . البته په استثنائی مواردو کی د مربوطه انتخاباتی کمیسون پریکړه د تعمیل وړده .

۵ ـ د کنړونو د ولایت په داخل او بهر په کمپونو کی درای گیری مرکزونه د دی لایحی په مل جدولونو کی ښودل ـ شوی دی . رای ورکوونکی به دخپلو مربوطه حلقو انتخاباتی مرکزونو ته په ټاکلی ورځ اونیټه د شروع او ختم دوختونو په نظر کی نیولو سره حاضریږی او درای ورکوونکو افرادو د کرائی او سفر ئی مصارف به د عالی کمیسون له خوا اجرا کیږی .

٦ ـ د هررای ورکوونکی شخص دووټ اچولو په وخت کی به د هغی دښی لاس په غټه گوته دانتخاباتی کمیسون له خوا په یوه مخصوص رنگ سره نښه کیږی چه د دوهم ځل ووټ اچولو چانس له منځه ویوړل شی . بیاهم که ووټ اچوونکی په یوه حلقه اویا په څو حلقو کی د یو ځل ځخه په زیات ووټ اچولو مجرم ثابت شی په لس زره کلدارو نقد جرم به محکوم او جرم به ئی د مربوطه تنظیم ځخه وصول کیږی .

۷ ـ د هر تنظیم صندق ته ووټ باید د تنظیم په نامه واچول شی د رای ورکوونکی چه هر تنظیم خوښ وی په آزده اراده ووټ ورکولی شی . د ووټ اچولو ځای به په خاصه توگه تنظیم شوی وی .

۸ ـ هر هغه ووټ چه رای ورکوونکی ته د ووټ اچولو لپاره ورکول کیږی د هر انتخاباتی کمیسون د ټولو غړو له خوا به دستخط شوی وی . که کوم ووټ د انتخاباتی کمیسون د یو تن غړی له امضأ ځخه پاتی وی اعتبارنه لری البته د شرعی عذر په صورت کی د کمیسون د نورو غړو فیصله او دستخطونه تائید دی .

۹ ـ د عالی کمیسون له خوا به ددلوی د شپاړسمی نیټی ځخه د څو حلقو په رأی گیری کی چه په جدولونو کی ښودل شوی دی د مراقبت او کنترول د کمیسون په نامه یو کمیسون چه لس تنه اداری هیئت اوشل تنه امنیتی موظفین لری ، د مربوطه حلقو د انتخاباتی کمیسونونو د تعینولو اوهم د دغو حلقو دانتخاباتی پروگرام د مراقبت او کنترول په غرض موظف کړل شی چه د خپل کار د تکمیل ځخه وروسته به مکمل راپور د عالی کمیسون د اطمینان په غرض عالی کمیسون ته استوی .

۱۰ ـ د هر انتخاباتی کمیسون سره به درای گیری په ځای کی د مربوطه کمپونو ځخه

ځلوېښت تنه مجاهدين د امنيت د تحفظ په غرض موظف کيږي چه شل تنه به د کميسون دکيناستلو ځای دامنيت لاندی ساتی ، لس تنه به د کشف او تعقيب وظيفه اجرا کوی او نور پاتی لس تنه به درای ورکوونکو در اتللو او تللو رهنمائی کوی .

۱۱ ـ هر انتخاباتی کميسون د خپلو ټولو غړو په توافق صلاحيت لری چه د دی لايحی د محتوا د تطبيق په صورت کی د رامنځ ته کيدونکو خنډونو د پيدا کيدلو په صورت متبادل تجويز ونيسی او اقدام وکړی .

۱۲ ـ د خط اول د مجاهدينو رای گيری به دعالی کميسون له خوا د يو موظف هيئت په ذريعه په دی ډول صورت نيسی ، چه د هر تنظيم د مجاهدينو موثقه احصايه به ترلاسه کوی او د موظف هيئت د تصديق او امضاء وروسته به د هر تنظيم د خط اول د مجاهدينو تعداد درای شماری په وخت کی په نظر کی نيول کيږي .

۱۳ ـ دا چه په کمپونو کی د ولايت د داخلی اصلی حلقو په ارتباط انتخابات صورت نيسی او د مختلفو حلقو مجاهدين په يوه کمپ کی اوسيږی نو بايد چه انتخاباتی کميسون دووټ د کارت د حلقی ستون درای ورکوونکی د اصلی حلقی په رابطه حلقه بندی کړی .

۱۴ ـ د ووټونو د جمع آوری په صورت کی به يو صندق چه دولس جعبی ولری هر انتخاباتی کميسون له ځانه سره لری . د ووټونو داچولو د وخت د ختم څخه وروسته دی هر صندق د مربوطه کميسون د ټولو غړو په امضاء مهر لاك شی او په عاجله توگه دې هغه وشی چه صندق درای شماری لپاره عالی کميسون ته حاضر کړی .

۱۵ ـ د عالی کميسون له خوا به يو فوق العاده باصلاحيته هيئت چه دولس تنه غړی ولری او د هر تنظيم يو يو تن غړی پکی شامل وی موظف کړل شی چه د ووټونو د صندقونو رای شماری وکړی . په دی ډول چه هر صندق عالی کميسون ته راورسيږی موظف هيئت به د انتخاباتی کميسون د غړو په احضار چه صندق ئی له ځانه سره راوړی دی صندق برسيره کوی او په مرتبه جدول کی به د هر تنظيم رای شماری ثبت کوی . وروسته به مرتبه خانه پری شوی جدول موظف هيئت او د انتخاباتی کميسون ټول غړی امضا کوی . بايد جدول بدون له قلم خوری ، گل او تراش څخه خانه پری شی .

۱۶ ـ د ټولو صندقونو د جداگانه رای شماری د تثبيت وروسته به عمومی نتيجه په يوه ورقه جدول کی خلاصه کيږي . د عمومی نتيجی جدول به د موظف هيئت او د

انتخاباتی کمیسونونو د هر کمیسون رئیس خبرتیا په غرض د یوی ابلاغیی په شکل په امضاء کوی جدول به قلم خوری نه لری .

۱۷ ـ عالی کمیسون به عمومی نتیجه د عامی داخل او خارج کی نشرته سپاری .

په پورته ډول په دوه ورقو کی چه او ولس مادی لری او دری ورقی ضمایم برسره دی انتخاباتی لایحه ترتیب شوه صحت ده . تائید او منظور ده .



نوی دام

د سره استعمار نوی دام د ذهن غولول دی
څو کسه کړی د ځان نوم د ملت ورباندی کیږدی

د سره لښکر په مرسته په تخت کښینوی مغرور
د پاسه نوم د خلکو حکومت ورباندی کیږدی

قومونه جنګوی خپل پلار له زوی سره په جنګ کړی
په ډیره بی شرمی نوم د وحدت ورباندی کیږدی

بموته اوروی په خلکو ظلم چلوی
اورونه بلوی نوم د خلامت ورباندی کیږدی

آرامه آرامی وی په یو ملك کښی چه دوی ورشی
جنګونه کړی نوم سوله، امنیت ورباندی کیږدی

کوی قتل عامونه دوکړو د ملت
خونوم په سپین سترګی د عدالت ورباندی کیږدی

تری واخلی خپلوا کی او آزادی او خپل اختیار
په خوله نوم د ملت د حاکمیت ورباندی کیږدی

د ځان په ګته چور کړی کلتور او اقتصاد
خو نوم د ورور ولی او محبت ورباندی کیږدی

غلام کړی بل ملت په ډیرو لومو کښی ئی ښکیل کړی
د خـولی پـه تـش ویـل نوم حریت وربانـدی کیږدی
نـــازلـه پـه مـلت کـړی سـره وحـشی د کتاتوری
خـو نـوم ولـسواکـی مـلی قـدرت وربانـدی کیږدی
کـــه داوی ســـوســـیالـیزم تـرقـی او امـنیت
هـــر څـوك بـه لوی پنډونه د لعنت وربانـدی کیږدی

دوړشوورشو

چـه د تـول جهان نیول ئی وو په نیت کښی
هـا حریص ته اوس ساحه د پښو شوه تنگه
چـه بـی سـره پـه کښی هره خوائی څړ ؤ
قـطبی خـرس ته د ورشو ورشو شوه تنگه

مــاله غیږ د محبت کــښی ښــکلی ژونــد را
زنــــدگی د جــست او خــیز لکه د سپند را

بــوالهوس ئی چه لری په عیش او نوش کی
د عمــل سپینوخولــو کښی هــغه خــوند را

استغــنا د یـــــو بیخــوده دیـــوانـــه را
پـــاکیزه یـــوه د مـــینی کاشــــانـــه را

زخمـــی زړه مــی لاپــه نورو وینورنګ کړه
ســــربازی د یـــو ســــر تیــری پروانه را

ســــر منــزل د ارمــانونو انقـــلاب را
د ژونــــدون د مشــکلاتــو ســره تــاب را

د مستـــانــو غــوندی رنــد می آموخته کړه
ســــرنوشت مــــی بــاب د مینی د کتــاب را

افتخار د محبت په ښکلی تاج را
سمندرنه اور د مینی کښی خراج را
په بنګلی او په مانی می لاړی تو کړی
ته غنا د زړه اتوم په احتیاج را

د زړه کور کښی می د مینی مشال بل کړه
لیونی غوندی سرخوده طبیعت را
د ثری نه چه تر عرشه پکښی ځای شی
د هدف په دایره کښی ها وسعت را

درد و غم د محبت کښی خوند سرور را
دیره ځای د آرمانو په کوه طور را
چه د حق د پاره دار په لیموښکل کړم
هو مره جوش د سربازی لکه منصور را

ماله ژوند د طوغانی غوندی جهاز را
خاص یو تاته می ملا تیته د نیاز را
ستا د نهو آسمانو پردی چه وشلوم
هومره زور ، قوت د مینی د پرواز را

د تاثیرنه ډك یو تود او ګرم آه را
د زړه کور می د دردونو منزلګاه را

کړه سپوږ مـی غوندی درنه کره می پورته
هــسی نــه چــه پــه خفت عـروج د کاه را

مــادیـت د غــرب لاهــو کــړو تباه کـیږو
زمــونږ روح تــه یــوغیبی غوندی امداد را
معنوی اساس مـوتینگ پـه خپل قدرت کړه
د منـــزل پـــه لــوری بیا منـډی د بـادرا

آئیـــنه چـــه د جـــهان د نــندار و شـــی
دا یــو مــوتی دردمند زړه می جام د جم را
د تــوحید لـمبی مـی سری لـره سینه کښی
د بـوتـانـو نـــه خـالــی د زړه حـــرم را

ســرو لــمبو کــښی سمنــدر غـوندی آرام را
پــه خــپل لاس مـونږ له د خپل فکر زمام را
چـه وړمـه د حـرکت اوژونـد په کښی وی
د سـحر د بـاد پـه خـولـه هــغه پیغام را

زړه د درد د مــرغـــلور خـــزیـنـه را
د هــدف بــام تــه د لــوړ همت زیـنـه را
ورانــه مــینه مــی پــه مینه ښالیسته کړه
د پــاك عــشق پـه سرو لمبو سوی سینه را

فرعون

آه نقد عقل و دین درباختم
دیدم و این نور را نشناختم

ای جهانداران سوی من بنگوید
ای زیانکاران سوی من بنگرید

وای قومی از هوس گردیده کور
می برد لعل و گهر از خاک گور

پیکری کو در عجایب خانه ایست
برلب خاموش او افسانه ایست

از ملوکیت خبر ها می دهد
کور چشمان را نظرها میدهد

چیست نقد ملوکیت شقاق
محکمی جستن ز تدبیر نفاق

از بد آموزی زبون تقدیر ملک
باطل و آشفته تو تدبیر ملک

باز اگر بینم کلیم الله را
خواهم ازوی یک دل آگاه را

دافغانستان د جگړې په باب د یو روسي ژورنالست یادداشتونه

د مسکو مشهوری او ونیزی نیو تایمز په ۲٦ ـ ۳۱ دسمبر ۱۹۸۹ گنه کی د روس د مشهور لیکوال لیولین یو مضمون چاپ کړی چه په افغانستان باندی د روسی استعمار د وحشیانه یرغل او جنایاتو په باب پکی د روسانو اعترافات څرگند شوی چه مونږ ئی پښتو ترجمه خپلو گرانو لوستونکو ته وړاندی کوو :

د روسی پوځ د څلوښتمی قوی قوماندان جنرال گروموف ، هغه و روستنی پوځی وو چه د افغان ـ روس په سرحدی پل راپوریوت او د خپل هیواد په خاوره کی ئی قدم کیښود . دا سړی کلونه کلونه د دنیا له سترگوپټ ؤ خو د هغه د قوی په باب زمونږ مطبوعاتو دا خبرونه خپرول چه دا یوازی د گوتو په شمیر په څو کسیزو پوځیانو مشتمله قطعه ده . شاید د پوځیانو د شمیر د کم ښودلو هدف دا ؤ ترڅو د عامو خلکو په ذهن باندی د افغانستان جگړه زیات اثرونه غورزوی .

جنرال گروموف او نور روسی پوځیان هیواد ته په راستنیدو سره زمونږ د تلویزیون په پرده و ښودل شول خو (حقیقت دادی چه) زمونږ پوځیان چه د پنځولکو کورنیو د سترگو تور وو اولس کاله پرله پسی افغانستان ته واستول شول ، له هغو نه

دیارلس زره تنه د آبد لپاره هیواد ته له
راستنیدو څخه بې برخې شول.

مونږ چه کوم پوځیان د ۱۹۷۹ کال د دسامبر په میاشت کې د «سوسیالیزم» د بنسټ د ټینګولو لپاره افغانستان ته استولي وو، لس کاله وروسته په داسې یو حال کې خپلو کورونو ته راستانه شول چه د هر چاپه خوله کې دا یوه خبره ناسته وه چه: آیا هغه نظام چه مونږ په خپل هیواد (روس) کې جوړ کړی رښتیا هم سوسیالیزم دی؟ د افغانستان جګړه په داسې وخت کې پای ته رسیدلې چه زمونږ ملت د خپلې ماضي په څیړلو او د روسي جامعې د بیا جوړښت لپاره له بې شمیره ستونزو سره لاس او ګریوان دی. ځینې خلك وائي چه مونږ ته په خپل هیواد کې داسې ستونزې پرتې دي چه له دې زیات د افغانستان لپاره خپل وخت نه شو ضایع کولی. ډیر وخت ماته دا احساس راولاړیږي چه د افغانستان مسأله په ډیره تیزۍ سره زمونږ لپاره د ماضي یو داستان جوړیږي، هغو خلکو چه له نن نه لس کاله وړاندې زمونږ په هیواد حکمراني کوله مړه دي او هغه کسان چه هغه وخت په کابل کې د حکومت په تخت کښېنول شول، اوس ئې باید د ماضي په څپو کې ورك کړو.

زمونږ خارجه وزیر شیورد نادزې، په افغانستان باندې د شوروي تاړاك له ملي او بین المللي قوانینو څخه تمرد ګڼلی دی. دلته باید دا خبره یاده کړم چه امریکائیانو د ویتنام د جګړې نه وروسته، د ملي فشار سره سره داسې کوم اعتراف نه ؤ کړی.

په هر حال روسي سیاست پوهان او دپلوماتان مجبور دي چه دافغانستان په باب په خپل ښکاره موقف کې تغیرات راولي. مونږ په لومړیو وختو کې د هغه ځای (افغانستان) د مزاحمتي قوتونو سره خبرې اترې خولاځه چه هیڅ ډول ارتباط ساتلو ته آماده نه وو، خو وروسته مو ورسره مستقیمي خبرې اترې وکړې، مخکې مو د هغوی د غربي مشاورینو سره په دغه مساله باندې له مذاکراتو څخه انکار کاوه خو وروسته مجبور شوو چه د امریکې د خارجه وزارت نه مرسته و غواړو او د خپلو جنګي قیدیانو دراخلاصولو له پاره د برتانیې د لاربېتل مرستې ته سترګې په لار شو. د همدغې لسیزې په لومړیو کلونو کې زمونږ د خارجه وزارت مسئولینو د هغه افغان «انقلابي ګوند» زیات زیات صفتونه کول چه د «ماضي د تاریکیو» په خلاف په جګړه اخته ؤ او شوروي اتحاد هم په دغه کار کې د دغه ګوند مرستیال او ملګری ؤ، په داسې حال کې چه د ۱۹۸۹ کال په دسمبر کې زمونږ خارجه وزیر ایتالي ته لاړ او د پخواني

پادشاه سره ئی ملاقات وکړ .

د مسکو حاکمان باید د خپل گمراهانه پوځی سیاست د فاحش شکست نه نیولی په افغانستان کی د په جگړه اخته قوتونو د طاقت دسنجش او معلومولو لپاره یوه اوږ ده لار ووهی ، د افغانستان مستقبل زمونږ لپاره د ذهنی درد او پریشانیونه علاوه نور څه نه لری او دغه ټولی ناکامی زمونږ د خارجه وزارت د فیصلو نتیجه ده . د کورنیو پالیسیو نتایج هم له بهرنیو پالیسیونه څه ښه والی نه لری ، تراوسه خو دا یوازی جنرال گروموف یواځینی قوماندان دی چه د افغانستان د جگړی په وجه له وظیفی نه برطرف شوی دی ، دا خو داسی معنی ورکوی چه یوازی جنرال گروموف ؤ چه په افغانستان باندی ئی د یرغل او بیا له هغه ځایه د پوځونو د ویستلو مسئولیت په غاړه ؤ . د پوځونو له ویستلو نه دادی څو میاشتی تیریږی خو لاتر اوسه د دی غلطی فیصلی د کوم کوچنی مسئول رهبر نوم نه دی اخستل شوی . سره له دی چه مونږ له دغو خلکو څخه بی خبره نه یو چه البته دا بحث په ډیر شور زوږ سره روان دی چه پوځیانو ته دی عامه معافی اعلان شی که نه ؟

خو آیا زمونږ لیډران به د خلکو په وړاندی له جواب ورکولو نه غیر هم معاف شی ؟ آیا له اوسنی حال نه داسی مطلب واخلو چه زمونږ راتلونکو لیډرانو ته سرله اوس نه له هر ډول احتساب نه د تحفظ باور ورکړی شوی دی ؟

زه یواځینی سړی نه یم چه دا خبره کوم خو البته په ټینگه سره دا نظر تائید وم چه که له افغانستان نه د روسی پوځونو د وتلو فیصله جنرال گروموف کړی وی نو مونږ ټول د هغه په دی فیصله باندی د دغه جنرال ممنون یو او پکار ده چه د هغه نوم زمونږ د ملی مشرانو په فهرست کی شامل شی خو دا څه عجیبه حال دی چه مونږ دی د جگړی د بای ته رسیدو لپاره د گورباچوف مشکور او ممنون شو خو د هغه چانوم دی په خوله وانخلو چاچه مونږ د دغی جگړی اورته ور ټیل وهلی یو .

د فروری د پنځلسمی (د روسی پوځونو د وتلو تاریخ) نه وروسته زمونږ زوږ فکر بیا را ژوندی شو د دکانونو په وړاندی د خلکو اوږده قطارونه چه غذائی او ضروری موادو د کمښت په وجه له غصی نه ځان خوری ، د افغانستان د جگړی معذورو سپاهیانو ته د قطارونو په سرکی ځای نه ورکوی او په چیغو چیغو ورته وائی : «مونږ خو تاسو هلته نه وی لیږلی» او په دغسی یو وخت کی زمونږ ملی اخبارونه او جراید لیکی چه دغو

پوځیانو په بین المللی سطح باندی د وطن د مور خدمت سرته ورساوه .

د روسی پارلمان غړو د څلورم ځل بحث نه وروسته د هغو پوځیانو د معافی فیصله لیك تصویب کړ چه د افغانستان د جگړی په ترځ کی د جرایمو مرتکب شوی وو .

د پارلمان یو شمیر غړو د فیصله لیك په لومړی مسوده کی ځینو داسی خبرو ته اشاره کړی وه چه اصل هدف یوازی پروپاگند ؤ بیا زیاتره هغو خلکو ته د معافی اعلان و شو چه غربی هیوادو ته تښتیدلی وو . د بحث په ترځ کی د پارلمان غړی ددی مشکل سره هم مخامخ شول چه ټولو مجرمانو ته دی معافی ورکړی شی که نه ؟ آیا هغه پوځیان دی هم معاف کړی شی چاچه په افغانستان کی د روسی پوځونو نظامی مرکزونه دشمن ته په گوته کړی او جنگی پلانونه ئی دشمن ته رسوا کړی دی او وسله او مخدره موادئی خرڅ کړی دی ؟ آیا د داسی پوځیانو معافول پخپله جرم نه دی ؟ آیا دا د هغو پوځیانو له کورنیو سره خیانت نه دی چاسره چه د جگړی په ترځ کی خپلو ملگرو غداری کړی او یائی هغوی وژلی دی .

تیر پوره یو کال مونږ د جنگی قیدیانو د خلاصولو په مساله غور او فکر وکړ خو داخل زمونږ د بحث او خبرو په مجلس باندی د دی ویروونکی منطق خاپسه ناسته وه چه ټول جنگی قیدیان غداران وی او همدغه منطق دی چه د ډیری لږی مودی په تیریدو سره ئی زمونږ د پوځیانو ، د هغوی د کورنیو او نږدی دوستانو او بچیانو ژوند د یو دردونکی عذاب په دوزخ بدل کړی ؤ ، خو اوس زمونږ ملت دا خبره درك کړی ده چه روسی پوځیان باید د هغو کسانو په لاس د مجرمانو په کتار کی و نه درول شی چاچه دغه پوځیان په زور او جبر د جگړی اورته ورغورزولی دی او بیا تری دا غیر انسانی او غیر فطری توقع هم ولری چه دوی باید د خپل ځان د نجات طبیعی آرزوتر پښو لاندی هم کړی (یعنی د جنگی قیدی پحیث له ژوند نه دی مرگ ته ترجیح ورکړی) نو آیا ستاسو سره د هغو پوځیانو د معافی لپاره هیڅ دلیل نشته چه په کامل ډول د خپلی غوښتنی او آرزو په خلاف د جگړی په دوران کی نیول شوی دی . دا خو عادی انسانان وو او عام سړی د غیر مترقبه شرایطو فشار نښی زغملای همدغه وجه ده چه د جگړی په ترځ کی د بزدلی او غداری واقعات را منځته کیږی . تر هغه وخته چه دافغانستان د جگړی واقعی مجرمانو او د جرم نوعیت نه وی په گوته شوی او د هغو په باب ښکاره فیصله نه وی شوی تر هغه وخته مونږ ته د هغو

پوښتنو قناعت بخښونکی ځواب په لاس نشی راتلی چه د بحث په ترڅ کی د پارلمان غړو مطرح کړی دی. په هر حال ښه خبره داده چه د دغو پوځیانو په حال رحم وشی ځوك چه موږ جنگ ته استولی دی.

د افغانستان د جگړې يو روسی پوځی ماته وويل چه د جگړې په لومړيو وختونو کی ځوشپی د خپل وجدان دفشار له امله ويښ پاتی شوم او سترگه می پټه نه کړه ځکه ماته د خيال او تصور په دنيا کی د هغه (افغان) خاندان د يو يو فرد څيره رامخ ته کيده چه موږ به ورباندی بمونه ور غورزول او هغوی به په وينو کی پړقيدل، له هغوی سره زموږ دشمنی يوازی په دی بناوه چه ولی دغی کورنی (زموږ له اجازی نه غير) په يوپټ ځای کی پناه اخستی ده. خو وروسته موږ د دغو کارونو سره عادی شو او بيا راته د ضمير آواز شاته غورزول او ورباندی عمل نه کول څه مشکل کار نه ؤ.

سره له دی دغه پوځی ماته دا خبره په ډاگه نه کړه خو هغه په دی ښه پوهيده چه د جگړې د پيل کيدو له حکم سره سم هغه ته دا باور ورکړی شوی ؤ چه تاته د قتل عام پوره اجازه حاصله ده او په دغه کار به هيڅکله هم ستا سره محاسبه ونشی.

د جگړې په لومړيو کلونو کی د سانسور مسئولينو ډير کوشش کاوه چه د اخبارونو په هيڅ مضمون يا خبر کی له دوو ځخه دزياتو وژل شويو سپاهيانو اطلاع خپره نشی او دا کوشش هم روان ؤ چه لوستونکی بايد په دی خبر نشی چه زموږ سل زره کسيز پوځ افغانستان ته ليږل شوی دی. ورځپاڼو به داچتيات خپرول چه څو کسيزه روسی پوځی قطعه په افغانستان کی د سړکونو د جوړولو او کليوته د کيمياوی سری د رسولو په چارو کی له افغانانو سره مرسته کوی. او که به د کومی جگړې خبر نشر ته لاره پيدا کړه نو هغه به د ياد ژورنالست درندانه جرأت نتيجه وه او يا به ئی له لوړو مقاماتو ځخه د نشر حکم اخستل کيده.

هغه اخباری مضامين چه د جنگی عملياتو په باب به ئی معلومات لرل په زيات دقت او توجه به لوستل کيدل. د جنگ په باب چه به کوم خبرونه زموږ په ورځپاڼو کی خپريدل په عام ډول به ئی داسی ښکاره کوله چه لږ شمير روسی پوځيان په افغانستان کی د باغيانو له خوا د «تحميل شوی جگړې» په خلاف د افغان حکومت مرسته کوی. دغو باغيانو ته به «انقلاب دشمن» عناصر هم ويل کيدل او ځنگه چه ورځپاڼی به د الفاظو او جملاتو ترکيب ته هم زړه نه ښه کاوه څه موده پس د باغيانو اصطلاح د «اپوز سيون

مسلحی ډلی» په نوم بدل شوه . وروسته په ۱۹۸۴ کال کی زمونږ ملت خبر شو چه یو شمیر روسی پوځیان په جګړه کی ژوندی هم نیول شوی دی چه غربی هیوادو ته وړل شوی دی . لکه چه د ازدولیست اخبار په لندن کی د یوی جوړی شوی «شر انګیزی مطبوعاتی مرکی» خبر خپور کړ . په خبر کی ویل شوی وو چه ددغی مطبوعاتی مرکی په ترڅ کی دوو تنو روسی پوځیانو د «غربی هیوادو د خصوصی ادارو» په لمسون د شوروی اتحاد په خلاف تقریرونه وکړل . څلور کاله وروسته مونږ ته معلومه شوه چه دغو پوځیانو په حقیقت کی هغه څه ویلی وو چهٔ نن ئی مونږ پخپله هم وایو یعنی دافغانستان د جګړی غندنه .

د ۱۹۸۷ او ۱۹۸۸ کلونو پوری زمونږ په هیواد کی ډیر داسی کتابونه خپریدل چه نوم او عنوان یه ئی ؤ : «نوی افغانستان ـ د ښکلی او روښانه ژوند مظهر» خوله دغو کلونو نه وروسته زمونږ په ورځپانو کی په دی لیکلو پیل وشو چه «د افغانستان جګړی مونږ په وینو کی ولمبولو» .

غم ځپلو میندو ته چه کله د دوی په کوچنیو او تنګو کورونو کی د ځامنو له غوښونه ډك ژیړ تابوتونه ورکړی کیږی نو بیا په ټوله سیمه باندی د غم او ویر فضا راالوتی وی .

د فکر او عقل خاوندانو به د دغو حالاتو په لیدلو سره زمونږ د نظامی فتحی او بری امکانات تردیدول البته د ۱۹۸۰ کال نه راپدیخوا زمونږ په ژبو دا خودساخته جملی تکراریدی چه د روسی پوځیانو کردار ډیر پاك دی خو افغان باغیان ډیر خراب خلك دی او ظلمونه کوی په داسی حال کی چه زمونږ د سپاهیانو لمن پاکه ده . دغه دروغ په ۱۹۸۹ کال کی رسوا شول . د الیګ پرماخوف په نوم زمونږ یو پوځی د جنګ په باب د خپلو خاطراتو د بیانولو په ترڅ کی دا حقیقت په ډاګه کړی دی چه څنګه به زمونږ نظامی قوماندانانو د خپلو محلی مزدورانو په واسطه جنګی قیدیان په ګولو ویشتل . بیا یوبل پخوانی پوځی ګینډی بخاروف په خپله مقاله کی ددی زړه دردوونکی تراژیدی نه پرده پورته کړه چه روسی پوځیانو د بی دفاع افغانانو څخه په یو ډك بس باندی د ګولو باران وو راوه .

زمونږ فلم جوړ وونکو داسی فلمونه نه دی جوړ کړی لکه چه امریکائیانو د ویتنام د جګړی په باب تیار کړی دی . زمونږ ملت باید له هغو بی شمیره ظالمانه واقعاتو څخه خبر شی چه د افغانستان د جګړی په وخت کی تری بی خبره ساتل شوی وو او بلکه لاپسی دغسی واقعات تکراریدل . خلك په هیڅ

شان دومره خونریزی نه شی خوښولی او که یوه ورځ دوی ته وویل شی چه یوازی ستاسو په نوم دومره ظلم زور شوی او تر اوسه دغه ټول ظالمانه عملیات ستا سو نه پټ ساتل شوی خو اوس ئی تاسو د یو واقعیت په حیث ومنی نو هیڅوك به ئی باور نه کړی .

داوسنی پارلمان په لومړیو جلسو کی د غړو لپاره په صبر او سکون سره د افغانستان په باب بحث او خبری کول مشکل تمامیدل او دا ورته ډیره سخته او ناشونی وه چه د دغه جنگ په باب حقایق له هر ډول تعصباتو څخه په پاکه فضا کی واوری . زمونږ په ساینس دان سخاروف باندی هغه وخت دلعن او طعن چغی راپورته شوی چه د کاناډا له یوه اخبار سره د هغه د مرکی خبره په پارلمان کی راپورته شوه . سخاروف په دغه مرکه کی ویلی وو چه په افغانستان کی په هغه روسی پوځیانو باندی له هلی کوپترونو څخه بمونه راغورزول کیږی دکومو په باب چه دا اندیښنه پیداشی چه گوندی د جنگی قیدیانو په حیث به ونیول شی دغه وخت په پارلمان کی د جذباتو داسی یو طوفان راوالوت چه غړی د خپلو مسئولیتونو څخه هم غافل شول . پکار خو داوه چه د دغه ډول درنو واقعاتو د څیړنی لپاره یو کمیسیون تاکل شوی وی تر څوئی د دغو واقعاتو د مرتکبینو بیانونه اوریدلی وی گډوډ او متضاد شهادتونه ئی څیړلی وی او په دی ډول ئی اصل حقیقت معلوم کړی وی .

د شوروی اتحاد پنځه لکو اوسیدونکو د افغانستان په جگړه کی برخه اخستی په دغه شمیر کی د اېستونیا هغه قهرمان پوځیان هم شامل دی چه په دسمبر ۱۹۸۹ کی ئی خپل مډالونه او نښانونه لیری و غورزول او هغه سپاهیان پکی هم شامل دی چه تیر کال تری د تلبیسی مظاهرو د ټکولو لپاره کار واخستل شو . د پارلمان په غړو کی داسی کسان هم شته چه اوس د دغو جنجالونو د پای ته رسولو لپاره په مختلفو لارو چارو باندی غور کوی ، د شوروی په داخل کی دامن او سولی هغه ډول ـــــ تحریکونه را اوچت نه شول څومره چه دویتنام د جگړی په ترڅ کی په امریکا کی رامنځته شوی وو او شاید همداوجه وی چه زمونږ په ضمیر کی پټ د جرم احساس مونږ ته دا ترغیب راکوی چه د خپلو گناهونو پیټی د نورو د اوږو بار کړو ، زمونږ لوړو مقاماتو په خپلو جرمونو باندی په ښکاره اعتراف نه کولو سره د عامو خلکو ذهنونه داسی طرف ته اړولی دی چه باید هغه کسان مجرمان وگڼی چه صرف د خپلو حاکمانو امر او هدایت ئی تعمیل کړی دی . اوس چه زمونږ ملت د دغی جگړی په باره

کی له پخوانه زیات معلومات لاسته راوړی ، پوښتنه دا پیدا کیږی چه په دغه جګړه کی زمونږ د ملوثو پوځیانو سره به څه ډول اجتماعی رویه وشی او آیا هغوی به له جامعی نه لیری د تنهائی او تجرد په حالت په ژوند کولو مجبورشی ؟

اوس چه زمونږ په هیواد کی څه وخت د مظاهره کوونکو او هنګامه جوړوونکو د تس نس کولو ضرورت پیښ شی او یاد کومی نامعلومی او غیر مشهوری ډلی له خوا د جوړی شوی جلسی د ناکامولو هدف را منځته شی نو ددغه کار لپاره دافغانستان د جګړی له روسی سپاهیانو څخه کاراخستل کیږی او داځکه چه دوی اوس د حرفوی قاتلانو حیثیت غوره کړی دی . په دوی کی هیڅ ډول اخلاقی احساس ژوندی ندی پاتی شوی . هر څوك تری کرکه او نفرت کوی . هر څوك تری ویره او ترهه کوی .

«خولږ شان په دی خبره غور کول هم پکار دی چه که ستاسو یو لاس دڅه مریضی په وجه ستاسو د تکلیف باعث شی نو تاسو به ئی بی له ځنډه پری کوی او په حقارت او توهین به ئی اورته غورزوی ؟ او کنه د څه مناسب علاج فکر به ئی درسره پیدا کیږی او د صحت کوشش به ئی کوی ؟»

دغه الفاظ د افغانستان په باب د هغه ناول څخه اقتباس شوی دی چه سویتلانا الیکسی وچ د «د زیړو په تابوت کی قهرمان» تر عنوان لاندی لیکلی او په دی کال کی به د روسی ژبی په یوه مجله کی چاپ او د عامه مطالعی لپاره به وړاندی شی .

هغه کسان چه د افغانستان د جګړی روسی پوځیان د مظاهرو د منتشر کولو او د شر خوښوونکو د زورلو لپاره استعمالوی ، په حقیقت کی خپل هغه جرم تکرار وی چه په ۱۹۷۹ کی ئی مرتکب شوی وو . تاسو د دی حقیقت نه څنګه انکار کولی شی چه دغو پوځیانو ستاسو په احکامو باندی په عمل کولو سره ، د هغو اخلاقی حدودو هم پروانه ساتله چه انسانی فطرت ئی تقاضا کوی . آیا تاسو اوس بیا له هغوی نه هماغه کار اخستل غواړی ؟ . روسی پوځونه په افغانستان کی د خپل موجودیت دلسمی کالیزی د افسوسناك جشن د جوړیدونه مخکی راوغوښتل شول .

اوس هلته یوازی زمونږ پوځی تنصیبات پاتی دی . مونږ باید په نورو خبرو پسی و نه ګرځو یوازی دومره درس باید زده کړو چه د افغانستان له غلطی څخه به د بیا له پاره څنګه ځان وژغورو .

یوه ورځ چه مونږ په ټانك کی ناست او له جلال آباد نه کابل ته روان وو په لاره کی

پاتی په (۴۶) مخ کښی

اسلامي اخلاق

دوهمه برخه

کوم اخلاق چه مونږ ئی د اسلامی اخلاقو په نوم یادوو او د اخلاقی وصف د دوهمی څانگی نوم ورته ورکوو په خپل ذات گی د انسان د بنیادی اخلاقو یوه تکمیل شوی بڼه ده . داسی نه ده چه گوندی بنیادی اخلاق جلا او اسلامی اخلاق کوم جلاشی دی ، بلکه که دانسان بنیادی اخلاقو ته چه مونږ وربandی وړاندی بحث وکړ یوه کره کتنه وشی بیاهم څینی نیمگړ تیاوی پکی لیدل کیږی چه یوازی د اسلامی اخلاقو په وسیله پوره کیږی او بس .

د اسلام مقدس دین د انسان بنیادی اخلاقو ته یو خاص محور ټاکلی دی چه انسان کولی شی چه له دغه محور سره د پیوستون له مخی خپل ځان د خیر او فلاح منبع او سرچینه وگنی .

اخلاق په ځانگړی توگه یو مجرد قوت دی چه د. خیر په لاره کی هم په کار لوید لای شی او د شر په لاره کښی هم . او مثال ئی توری ته ورته دی چه غوڅول ئی وظیفه ده ، که دغه توره د مفسد ، غله او ډاکو په لاس ورشی نو د زور ظلم او تیری آله ده او که دفی سبیل الله مجاهد سره په لاس وی نو د انسانی فلاح او رستگاری او دَ الله تعالی د رضا د حصول وسیله ده .

د خیر ښیگنی احساس یوازی د اخلاقی وصف د موجودیت زیږنده نده بلکه د خیر په لاره کی د اخلاقی وصف د پکار اچولو وظیفه یوازی ، اسلامی اقدارو په تحقق او عملی کیدو کی مضمره ده . د اسلامی دعوت یوه لازمی غوښتنه داده چه د دنیا په ژوند کی د انسان د ټولو هلوځلو ، کړاوونو او منډو ترړو یوازینی مقصد د الله تعالی د رضا حصول دی او د هغه د فکر او عمل دایره په هغو حدودوکی محدوده دی چه الله تعالی ورته

ټاکلی دی . په اخلاقی وصفونو کی ددغی ترمیمی مادی په زیاتولو سره د انسانی اخلاقو وسله په سمه لار کی په کارلویږی او له هغو نه پیدا شوی قوت د نفس د خواهشاتو ، د کورنی ، قوم اوملت د گټو د خوندی ساتلو په ځای ، د حق د سرلوړی او برلاسی په لار کی استعمالیږی . همدغه وخت دی چه اخلاق د تجرد له مرتبی نه د خیر ښیگنی او رحمت مقام ته لوړوی . بله ستره تکاملی مرحله چه اسلام ئی د اخلاقی وصف د ارتقا لپاره سرته رسوی ، انسانی اخلاقو ته د قوت او استحکام بخښل دی . د دغه قوت او استحکام یو مثال صبر دی ، د ټولو نه ستر صبور انسان چه د هغه صبر د دنیوی اغراضو او اهدافو لپاره وی او د شرك او ماده پرستی له چینی نه او به ځښی ، د صبر د یوه ټاکلی حد نه اخوائی د زغم او صبر کاسه ډکیږی او د جذباتو او بی صبری په عالم کی ئی چه هره فیصله زړه وغواړی کوی ئی . مگر هغه صبر چه د توحید له ریښو نه غذا وررسیږی او هدف او مرام ئی د دنیوی گټو د ساتلو لپاره نه بلکه د الله رب العالمین لپاره دی بیله شکه د زغم او تحمیل او ثبات او شهامت هغی نایابی خزانی ته ورته وی چه د دنیا هیڅ قوت ئی نشی لو ټولی او په همدی اساس ویلی شو چه په یو غیر اسلامی شخص کی د صبر نعمت ډیر محدود او لږ وی ، کله خو هغه د گولیو په باران کی په ثبات او شهامت و دریږی خو چه کله ئی د شهوانی جذباتو طوفان را په مخه کړی نو بیائی اماره نفس دده د صبر او استقامت پښی کاواکه کړی او د نفسی خواهشاتو په کنده کی ئی وغورزوی . خو اسلام ، د صبر قوت د انسان په رگ رگ کی خپروی او له هغه نه یوازی د ځو مشخصو او د گوتو په شمار خطراتو او مصایبو سره په مقابله کی نه بلکه د هر هغه خواهش سره د مقابلی په ډگر کی یو بی ساری قوت جوړ وی چه هدف ئی له سمی لاری ځخه د انسان انحراف وی .

اسلام د انسانی ژوند نه یو صابرانه ژوند جوړوی او د دغه ژوند اساسی اصول دادی چه په اسلامی اخلاقو متصف انسان به ټول عمر په لاره ژوند کوی که څه هم چه خطرونه ، زیانونه او مشکلات ئی تهدید هم کړی .

له بدو او مفسدو اعمالونه ځان ساتل او د حق په لاره کی په متانت او شهامت مبارزه کول ، اسلامی صبر دی ، د اسلامی صبر نه هیڅکله هم باید دا استنباط و نشی چه گوندی صبر د انزوا په گوټ کی کښیناستل او د حق او باطل ترمنځ په مقابله او جگړه کی ځان بی تفاوته او بی طرفه نیول او یاد

کفارو او مشرکینو د ظلم او ناروا په وړاندی سکوت کول اسلامی صبر دی .

هیڅکله هم نه ، بلکه کوم صبر چه اسلام ئی خپلو پیروانو ته توصیه کړی ، د شهوانی خواهشاتو او ټولو بدو اعمالونه د ځان ژغورنی ، په نفس باندی د کنترول او برلاسی او د حق په لاره کی د مبارزی او د الله د هر دښمن سره په ثبات او استقامت سره د مقابلی او د عزم او تصمیم د نیولونه وروسته د سختونه په سختو شرایطو کی هم د الله د رضا لپاره په الله باندی توکل اسلامی صبر دی .

د اسلام بله ښیګڼه داده چه داخلاقو په لومړی پوړ باندی ، د فاضله اخلاقو یو بل پرتمین او عالی شان منزل ودانوی چهٔ د هغه په اساس انسان د خپل شرف او عظمت لوړو مدارجوته ورسیږی . د فاضله اخلاقو په برکت د انسان نفس له خود غرضی ، ظلم ، بی حیائی ، او بی بندوباری نه پاکیږی او د هغو په ځای له خدایه ویره ، تقوا ، او د حق پالنی احساس ژوندی کیږی . په هغه کی د اخلاقی مسئولیتونو د سرته رسولو شعور او احساس را پاریږی او بیا تری داسی یو انسان جوړ شی چه د بنی نوع انسان لپاره کریم . فیاض ، رحیم همدرد ، امین ، خیرخواه ، عادل او په ټولو شرایطو کی د صداقت او رښتینولی نمونه وی . هیڅوك تری د شر او فساد تمه نه کوی بلکه د خیر امید تری کوی .

د اسلام وظیفه یوازی په دی سرته نه رسیږی چه له انسان نه یوازی یو نیك سړی جوړ کړی بلکه د محمد صلی الله علیه وسلم د مبارك ارشاد په بنأ اسلام غواړی چه له انسان نه مفتاح الخیر او مغلاق الشر یعنی د خیر د دروازی پرانستونکی او د شر د دروازی بندوونکی جوړ کړی .

د اسلام تقاضا داده چه انسان باید په نړی کی خیر ښګیره خپره کړی او د مفاسدو مخه ونیسی . او په دغه نیك خوی او حسنه اخلاقو کی داسی بی ساری قوت موجود دی چه په هغه باندی د متصف ملت سره د مقابلی تاب او توان د نړی په هیڅ فاسد او شیطانی طاقت کی هم نشته .

د تنظیم طلبه سلفیه کلنی اجتماع

د تنظیم طلبه سلفیه دری ورځنی کلنی اجتماع چه د ۱۹۹۰ م کال د جنوری په ۲۴ ـ ۲۵ ـ ۲٦ چه د ۱۴۱۰ هـ ق د جمادی الثانی له ۲۷ ـ ۲۸ ـ ۲۹ سره سمون لری د چهار شنبی ، پنجشنبی او جمعی په ورځو کښی په «جامعة الدعوة الی القرآن والسنة» پښی ستیشن جی ـ تی ـ روډ پیښور کښی منعقد شوی وه ؛ الحمد لله په ډیره کامیابی او د تنظیم طلبه سلفیه د نوجوانانو په جذباتو سرته ورسیده . دا اجتماع چه دری ورځی ئی جریان درلود په اولینو دوه ورځو کی طالب العلمانوته تربیتی بیانات او خطابونه وشول چه په دی دوه ورځو کښی (۹۰۰۰) نه زره طالبانو په دی اجتماع کښی شرکت درلود او ددی اجتماع آخری ورځی ته د جهاد کانفرنس لقب ورکړی شوی وه . په دی کانفرنس کښی تقریبا (۱۵۰۰۰) پنځلس زره طالب العلمانو او عوامو برخه واخسته . په دی اجتماع کښی د مختلفو صوبو او حلقو نه د طالب العلمانو قافلی راغلی وی . د مثال په ډول په صوبه سرحد کښی د باجوړ دایجنسی نه دوه قافلی او له ضلع دیر نه او ملاکنډ ډویژن او له صوابی او ضلع مردان او غازی او هری پور او ټل او کوهاټ او بنو او له خیبر ایجنسی او اتمانز و او مونډا او ناگمان او جلوزو او د پیښوردحلقی متعلق د مدرسو او لیسو د حلقه جاتو نه طالب العلمانو نوجوانانو او د صوبه پنجاب بلوچستان او سند نه د تنظیم طلبه سلفیه د طالب العلمانو نماینده گان په کثیر تعداد سره راغلی وه چه به دی اجتماع کښی د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة قائیدینو او د پاکستان د مرکزی جمعیت سلفیه مشرانو او د پنجاب نورو علماؤ او د تنظیم طلبه سلفیه قائیدینو د قرآن او سنت په رڼاکښی هر یوه په خپلو خپلو موضوع گانو باندی ارزښتناکی

او دوپاړنه ډکې ویناګانې وکړې .

د اجتماع په او له تربیتي ورځ باندې د قرآن کریم د تلاوت نه بعد طالب العلم ورور عبدالکریم عبید صاحب ، ناظم اجتماع طالب العلم سمیع الله عابد صاحب ، مولانا محمد رحیم صاحب ، مولانا عبدالبصیر صاحب مولانا حمدالله صاحب ، مولانا عبدالحق صاحب ، مولانا سبغت الله شیراني صاحب مولانا فرید الله صاحب ، (امیر بلوچستان) ټولو په خپلو موضوع ګانو باندې د قرآن او سنت په رڼاکښې په تفصیل سره بیان وکړچه ډیر دلچسپ او په زړه پورې وو .

داجتماع په دوهمه تربیتي ورځ باندې د سهار دلمانځه نه بعد درس حدیث مولانا سمیع الله صاحب طالب العلمانو ته ورکړ . بیا وروسته د تلاوت د پروګرام په شروع کې مولانا محمد اسلم صاحب فضیلة الشیخ سید بدیع الدین شاه «الراشدی» پروفیسر سعید احمد صاحب دلاهور ، سید ضیاء الله شاه بخاری صاحب ساهیوال د پنجاب ، مولانا عبدالهادی فاروق صاحب د تهکال ، مولانا عبدالعزیز النورستاني صاحب مولانا عبدالرحمن مدني صاحب د لاهور ، مولانا شاولي صاحب هریوه خپله خپله موضوع ـــ مد لله او واضحه واورولـه چه د نوجوان نسل اسلامي احساسات ئې نورهم راویښ کړل اوهم طالب العلم سمیع الحق صاحب د تنظیم طلبه سلفیه مرام او شعارونه په عربي ژبې سره بیان کړل او هم د تنظیم طلبه سلفیه سالانه رپوټ . سعد الله سادات پیش کړو ، د اجتماع آخري ورځ چه د جهاد د کنفرنس لقب ورکړې شوی وه دا ورځ د نوجوانانو طالب العلمانو او مجاهدینو له خوا په ښه جوش او د جهاد په جذباتو سره سرته ورسیده چه په دې ورځ باندې لکه څنګه چه مخکې ذکر شو (۱۵۰۰۰) طالب العلمانو او مجاهدینو شرکت درلود .

د دې کانفرنس صدارت مولانا سمیع الله د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة مالي رئیس کولو . د جهاد کنفرنس آغاز د قرآن کریم په تلاوت سره وشو . وروسته د تلاوت نه مولانا یاسین ظفر صاحب مدیر جامعه سلفیه فیصل آباد خپل بیان وکړ . وروسته د یاسین صاحب نه قاید المجاهدین امیر المهاجرین شیخ جمیل-الرحمن طالب العلمانو ، مجاهدینو او انصارو ته یو عالمانه او تاریخي خطاب وکړ چه په دې خطاب کښې ئې طالب العلمان د قرآن او سنت علم ته ترغیب کړل او د قرآن او سنت د علم فضیلت ئې بیان کړ او هم ئې دافغانستان جهاد ته د طلبوٌ او دعو امو د جذباتو د وراړو لو په باره کښې یو بې مثاله او تاریخي خطاب وکړ وروسته شیخ جمیل الرحمن یو څو قرارونه پیش کړل چه د تنظیم

طلبه سلفیه د ټولو نوجوانانو له خوا ډیر په جوش او ولولو سره منظور شول او د شیخ جمیل الرحمن دغه قرارونو ته سلفی ځوانانو لبیك ووایه .

د شیخ جمیل الرحمن د خطاب نه وروسته د مرکزی جمعیت اهل حدیث پاکستان ناظم اعلی میا فضل حق صاحب په خپل خطاب کی د تنظیم طلبه سلفیه د نوجوانانو د ایمانی او جهادی جذباتو ستاینه وکړه او دائی وویل چه زه ډیر خوشحالی محسوسوم چه نن داسی نوجوانانو ته مخاطب یم چه ټول د سلفیت په یوه آواز او یوه قیادت د الله تعالی (جل جلاله) د دین د نفاذ لپاره راجمع شوی دی . د میا فضل حق صاحب د خطاب نه بعد طالب العلم رهنما غنی الله «مسلم» صاحب امیر تنظیم طلبه سلفیه داجتماع د کارکنانو او شرکاؤ مننه او شکریه ادا کړه . وروسته د دی نه د جمعی د لمونځ له پاره د تیاری وقفه ورکړی شوه او تر آذان وروسته د جمعی خطبه شیخ القرآن والحدیث غلام الله خان «رحمتی» صاحب واوروله او حاضرینو ته ئی د عقیدت سلف موضوع د قرآن او سنت په رڼاکښی ښه واضح بیان کړه - د اجتماع اختتامی خطاب او دعا مولانا احسان الله (د کنړ ر ولایت والی) وکړه . په دی اجتماع کی لویو لویو علماؤ او شخصیتونو په پوره مینه او دلچسپی سره شرکت کړی وو او د تنظیم طلبه سلفیه دعوت ئی قبول کړی وه چه د هغو اهمو شخصیتونو څخه د ځینو اسماء په لاندی ډول سره ذکر کوو .

١ ـ مولانا نعمت الله صاحب مدیر جامعه سلفیه کویټه بلوچستان .

٢ ـ مولانا محمد یونس صاحب مدرس جامعه سلفیه تیمر گره ضلع دیر .

٣ ـ مولانا عبدالغنی صاحب مهتمم دارالعلوم تعلیم الاسلام باجوړ .

۴ ـ مولانا عبدالغنی صاحب مدیر جامعه ثانویه باجوړ .

٥ ـ مولانا جمال ناصر صاحب مدیر جامعة الدعوة و ارشاد پشاور .

٦ ـ مولانا احمد نور صاحب د باجوړ ایجنسی ، مولانا خورشید احمد صاحب د باجوړ ایجنسی . مولانا عبدالرحمن صاحب رئیس نظامی ، مولانا رحمت خان صاحب رئیس مهاجرین مولانا عبدالرحمن صاحب رکن شورای ، مولانا گلاجان صاحب معاون ریاست امنیت ، مولانا حبیب الله سلفی صاحب مدرس معهد شرعی پشاور ، مولانا محمد یونس صاحب د باجوړ ایجنسی مولانا فضل الرحیم ابو ادریس صاحب ، قومندان نقیب الله صادق صاحب امیر نظامی ولایت کنړوررسید ولی

الله صاحب امير تنظيم طلبه اهل حديث پاکستان ، مولانا محمد معراج صاحب مدير جامعه محمديه کوهاټ ، غلام الله صاحب مدير تعليم و تربيه ضلع دير ، ورور حاجی محمد ايوب صاحب امير تنظيم اهل حديث صوبه سرحد ، داوه د تنظيم طلبه سلفيه د سالانه اجتماع مختصر راپور چه محترمو لوستونکو ته موپيش کړو .

ومن يتوکل على الله فهو حسبه حسبنا الله ونعم الوکيل .

د (١٦) مخ پاتې

قرآني دعوت او هدايت

مفسرينو په قرآن مجيد کښی دنړۍ په قومونو باندی د يهودو د فضيلت د ذکر کولو توجيه همدا کړی ده چه د شرک او بت پرستی په تاريك عصر کښی دا يوازينی قوم ؤو چهٔ د توحيد ډيوه ئی بله ساتلی ده .

په مسکو کښې د کرملین ماڼۍ ته نژدې د خلکو مظاهره

د نړۍ والو اژانسونو خبر دی چه د روان عیسوی کال د فروری په (۹) نیټه په سل گونو خلکو د کرملین دماڼی په مخکی د مظاهری په توگهٔ راټول شوی وو . په راپور کی ویل شوی چه مظاهره چیانو «ورك دی شی K - G - B» ناری وهلی او د «کمونیستانو بالادستی نوره نه شی چلیدی» شعارونه ئې پورته کړی وو . د اصلاحاتو یوپلوی مشر مظاهره چیانو ته د خپلی وینا په ترڅ کښی دگو نډداغند نه وکړه چه که کمونیست گوند د بدلون لپاره داوخت قدم وانه خیست نو بیا به ئی خلك په ډاگه کړی .

په رپوټ کی ویل شوی چه دا د شوروی په تاریخ کښی لمړی ځل ؤ چه بنسټزی آزادی غوښتونکی عام روسان راغونډ شوی او د کرملین د ټولواکی د قلعه په خوا ئی خپلی ملی ناندری څر گندولی . ددی نه وړاندی مظاهره چیان دغلته نږ دی چا نه وو پریښودلی . یو وینا وال د کرملین مناروته د گوتی د نیولو په وخت کښی وویل :

دی زر زری گومبدونو ته وگوری نه پوهیږم دغلته واکمن به ترکومی پوری د خپلو خلکو پر ضد سازشونه کوی . ویناوال د خپلو ویناکولو په ترڅ کښی وویل .

چه کمونیست مشران نورنه شی کولی هغه څه وکړی چه هیوادورته اړتیا لری .

د مسکونه په یو بل را پور کی ویل شوی دی چه د تیری ورځی مظاهره که یو خوا د دی خبری ښکار ندوی وه چه د خلکو په خیالاتو کښی چورلټه بدلون راغلی دی نو بل خوا داهم څرگندیده چه مخالف غورځنگ لا اوس هم کمزوری دی .

خبرزیاتوی چه ځینی ویناوال په دی عقیده وه چه مرکزی کمیټه پخپله غنډه کی وکولی شی چه ځان د بختی نه را وباسی . خو ځنی ویناوالو وویل چه اوس او به دورخه تیروتی دی .

خبریال وائی چه د پخوا په پرتله د خلکو

خیال بیخی بدل ښکاریده . خلکو چه کوم شعارونه پورته کړی وو په هغو کی د «گورباچوف» او ټول کمونیست گونددي په ټول واك خپله خیته اچول پریږ دی» شعار هم موجود ؤ . په مظاهره چیانو کی یوی وینا والی میرمنی وویل :

چه د (۱۹۱۷) م کال په فروری کی د راغلی انقلاب په څیر په کار دی چه د فروری یو بل سولئیز او ښتون را منځته شی . دی میرمنی زیاته کړه چه د لمړی انقلاب نه وروسته قصه سمه دمه روانه وه ولی د بالشویکانو یوی ډلگی چه په زور قدرت ونیوه نو قصه لاړه خرابه شوه .

همدارنگه نورو وینا والو چه د کمونیست گوند غړی ؤ د خپلو وینا ؤ په ترڅ کی وویل : چه کوم حکومت خپل خلك په گیډه نه شی مړولی هغه د پاتی کیدو څه حق نه لری . دوی د ختیځی اروپا داوښتونو نو د ذکر په وخت وویل :

چه مونږ ته په کاردی چه په همدغه منډ ورشو .

د (۲۷) مخ پاتی

دافغانستان د جگړی په باب یو روسی

زمونږ یو سپاهی یو مقام ته اشاره وکړه او په لوړ اواز ئی وویل فلانی او فلانی فوجی په دغه ځای کی ووژل شول . بیا د هغوی په یاد په دغه ځای کی دستوری نښان نصب شو ، چا د یادگار په ډول دستوری یو مډال په هغو زره پوش موټرونو هم ورگوزارلی ؤ چه په ډیر خراب حال د لاندی سیند په غاړه پراته وو . دلمر د ټهرجنو پلوشو له لاسه سوځیدلو بوټو او د سیند له څپو څخه پاتی شویو لهو په اتفاق سره ، د دغو زره پوشونو رنگ نورهم کریهه او بدرنگه کړی ؤ .

ما د دغی منظری په لیدلو سره دا احساس کړه چه د افغانستان ځمکی او خلکو ټول هغه شیان تباه کړی دی چه دوی ته اجنبی او پردی ښکاری په تیره بیا هغه څه چه د شمال له لوری راروانو «کافرانو» له ځان سره راوړی دی .

دغه «کافران» اوس له افغانستان نه وتلی دی خو ددی ځای ژوند لا تر اوسه خپل عادی حال ته نه دی راگرځیدلی . جگړه په شدت روانه ده او دواړه خواوی په یو بل باندی ډزی کوی .

د جهاد خبرونه

کابل :

گذارش های از کابل حاکی است که بم ظاهراً دریك موتر تکسی پنهان گردیده بود این انفجار در منطقه پل باغ عمومی و در حوالی ظهر صورت گرفت . نطاق حکومت گفت تعداد تلف شده گان بلند خواهد رفت زیرا جراحات یکعده زیاد مردم وخیم میباشد . انفجار باعث شکستن کلکین های تعمیرات مجاور گردید که دفاتر آژانس خبر رسانی باختر و ریاست اطاق تجارت در آن قراردارد . یك خبر نگار خبر رسانی فرانسه که صرف چند دقیقه بعد در محل واقعه رسید گفت : تعداد زیاد مردم را دیده است که جراحات ناشی از بریده گی شیشه داشتند و یا در محل تحت تداوی قرار گرفتند و یا به امبولانس هامنتقل میگردیدند .

پکتیا :

د پکتیا د ولایت نه په راغلو تازه خبرونو کښی ویل شوی چه د هغه ولایت د خوست دلوئی ولسوالی اتلو مجاهدینو د خوست په هوائی ډگر کښی درژیم دوه باروړونکی الوتکی دلیری ویشتونکو توپونو په ډزو تباه کړی دی .

منبع وائی چه مجاهدینو د دلوی د میاشتی په (۱۲) نیته د خوست په هوائی ډگر باندی دلیری ویشتونکو توپونو ډزی وکړی چه د هغو په آثر د رژیم دوه . باروړونکی الوتکی د گرځیدو په حال کښی ولگیدی او له منځه ولاړی . ویل کیږی چه دغوالوتکو د خوست کلابند شوی ښارته نظامی مهمات رسول .

په رپوټ کښی ویل شوی چه د الوتکو پیلوټان او کارکوونکی هم تباه شوی دی .

PROPERTY OF ACKU
S524

د افغانستان په شمالي ولاياتو کې د مجاهدينو عمليات

د جوزجان ، سمنگان ، بلخ کندز او د فاريات له ولايتو څخه را رسيدلی تازه را پوروونه وائی چه د دغو ولاياتو اتلو او مؤمنو مجاهدينو د کابل له مارکسيست رژيم سره سختی جگړی کړی دی .

دراپور په تفصيل کښی ويل شوی چه د روان عيسوی کال د جنوری د مياشتی په (۲۳) نيټه د جوزجان د ولايت د سرپل په ولسوالی کښی د کمونيست رژيم دوه امنيتی پوستی مجاهدينو نيولی دی . د دغو پوستو د نيولو په جگړه کښی د ملحد رژيم (۱۰) تنه مليشه مردار شوی او گڼ شمير نور ډير سخت ټپيان شوی دی .

په يو بل را پور کښی ويل شوی چه په همدی نيټه مؤمنو مجاهدينو د کوټی سرپل دوه نوری پوستی فتح کړی او د کمونيست رژيم (۲۲) تنه عسکر ئی مردار کړی چه (۲۳) ميله سپکه او درنده وسله او يوه اندازه مهمات او نور پوځی سامان الات د مؤمنو مجاهدينو لاس ته ورغلی دی .

منبع زياتوی چه مؤمنو مجاهدينو د سمنگانو د ولايت په مرکز (ايبك) کښی د روان کال د جنوری د مياشتی په (۲۸) مه نيټه د کابل د کمونيست رژيم په پوځی تا سيساتو حمله وکړه . په دی حمله کښی د دهری رژيم يو شمير مليشه او عسکر مړه يا زخميان شوی دی .

همدارنگه د بلخ په ولايت کی داتلو مجاهدينو او د کمونيست رژيم د قو اوُ تر منځ د جگړو په راپوروونو کښی ويل شوی چه په هغو بيلا بيلو جگړو کښی چه د مؤمنو مجاهدينو او کمونيستی قواو تر منځ وشوی ، د ملحد رژيم (۲۰) تنه مليشه او صاحب منصبان ووژل شول او (۳۴) تنه نور مجاهدينو د خپلو وسلو سره ژوندی ونيول .

راپور زياتوی چه د جنوری د مياشتی په (۱۹) نيټه د بلخ په ولايت کښی مجاهدينو په هغو پوستو عمليات ترسره کړل چه د گاز دامنيت د پاره ځای په ځای کړی شوی وی ، په دغو عملياتو کښی د رژيم يو شمير عسکر او مليشه مردار شول او يوه اندازه سپکه او درنده وسله مجاهدينو د غنيمت په ډول ترلاسه کړه .

بسم اللّٰه الرّحمن الرّحيم

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«من كان يؤمن بالله واليوم الاخر فلا يؤذى جاره ومن كان يؤمن بالله واليوم الاخر فليكرم ضيفه ومن كان يؤمن بالله واليوم الاخر فليقل خيرًا اوليسكت»

(مسلم)

ترجمه: هر څوك چه په الله جل جلاله او آخرت باندى ايمان لرى، نو ښائى چه خپل گاونډى ته ضرر و نه رسوى، د خپل ميلمه احترام وكړى او كله چه خبرى كوى نوپرته د حق، خير او عامو گټو څخه بل څه و نه وائى او كه نه نو پټه خوله دى و اوسى.

«زمونږ عقيده داده چه بندگى او پرستش به يوازى د الله تعالى كوو او په هغه طريقه او روش به ئى عبادت كوو چه محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم ئى مونږ ته لارښوونه كړى ده. مونږ د الله تعالى له ذات نه بغير، له هيچا څخه د مافوق الاسباب استمداد قايل نه يو»

(شيخ جميل الرحمن)

بسم الله الرحمن الرحیم

لا اله الا الله محمد رسول الله

الله اکبر

ان هذا القرآن یهدی للتی هی اقوم

ان الارض لله یورثها من یشاء من عباده

الا له الخلق والامر

الا له الخلق والامر

۱۳۸۴ هـ ق

جماعة الدعوة الی القرآن والسنة
افغانستان